د انګلستان او ویلز د قانونپوهانو
د بشری حقوقو کمیته
(BHRC)

# دقانون د حاکمیت
# په باره کی روزنلیک

افغانســـتان
اپریل ۲۰۰٦

د انگلستان او ویلز دقانونپوهانو
د بشری حقوقو د کمیتی نشرات
لندن - (BHRC)

# فهرست


سریزه........................................................................................................ ۱

لمړئ فصـــل: په نړیوالو او کورنیو قوانینو کی حقوق........................................................ ۲

الف) دبشر د حقوقو نړیوال قانون................................................................................. ۲

ب) د نــړیــوالــو حقــوقو د عملي کولــو لارې چارې ............................................................۸

ج) د بشر د حقوقو سیمه ایز تړونونه او څارونکي ارګانونه.......................................................... ۱۰

د) دافغانستان په اساسی قانون کی حقوق ........................................................................ ۱۲

دوهم فصل: په قانونی سیستمونو کی تضادونه......................................................................... ۱٤

الف) دحقوقودقانون الویت – داساسی قانون مقایسوی اړخ ...................................................... ۱٤

ب) حقوقي پلوراليزم.................................................................................................. ۱۶

ج) په افغانستان کې حقوقي پلوراليزم..................................................................................۱۷

دریم فصل:دښځواوماشومانوحقوق...................................................................................... ۱۹

الف) دښځودحقوقونړیوال قانون........................................................................................ ۱۹

ب) دماشوم د حقوقو نړیوال قانون ................................................................................... ۲۲

ج) دښځو او ماشومانو په اړوند د بشري حقوقو مسائل............................................................ ۲۵

څلورم فصل:دقانون د حاکمیت مسئلی................................................................................... ۲۹

الف) دځواکونوبیلتون اودقضا خپلواکتوب.............................................................................. ۲۹

ب) اخلاقی معیارونه – بهرنی تجربې....................................................................................۳۲

ج) دافغانستان د حقوقي سکتور وده ..................................................................................... ۳٤

پنځم فصل:د قضا اداره ........................................................................ ۳۶
الف) منصفانه محاکمه.............................................................................. ۳۶
ب) د دعوې د حل بدیل میتودونه ........................................................................ ۴۱
ج) د دعوی دحل د بدیلو لارو افغاني میتودونه .................................................. ۴۲
مــــأخــــذونـــــــه ....................................................................... ۴۵

# سریزه

د انګلستان او ویلز د بشر د حقوقو کمیټه (BHRC) د دغه هیواد د قضايي وکیلانو د کانون د نړیوالو بشري حقوقو څانګه ده. دا یوه خپلواکه اداره ده چي په ټوله نړۍ کی د وکیلانو او قاضیانود حقوقو د ساتني سره سروکار لري. دا اداره همدا راز د منصفانه قضاوت په حق پوري اړونده د قانون له حکم او له نړیوالو پیژندل شویو معیارونو نه دفاع کوي. د کمیټي د فعالیت ساحه له انګلستان نه هاخوا د نړۍ ټولو هیوادو ته غزیدلې ده.

د انګلستان او ویلز د بشر د حقوقو کمیټه د حقوقی وکیلانو د یوه ټولګي له خوا په ۱۹۹۱ کال کې جوړه شوېده. دا کمیټه رئیس، د رئیس مرستیال،مالي سکرتر او یوه اجرائیوی کمیټه لري چي په میاشت کی یو ځل غونډه کوي. د کمیټي اساسي هدفونه دادي:

- د هغو وکیلانواو قاضیانو حمایه او ساتنه چی دخپل کار په ځای کی ویرول شوي او زور زیاتئ پري شوئ
- د قانون د حکم او دبشري حقوقود نړیوالو پیژندل شویو معیارونو ساتنه
- له هغو سازمانونو او افرادو سره چی دبشرد حقوقولپاره کار کوي همکاري کول، هغوی ته مشوره ورکول او حمایت ورځنی کول
- دبشر د حقوقو او د بشری حقوقود قوانینو په باره کی د خلکود پوهی او علاقمندی د پاره کارکول
- د انګلستان او ویلز د وکیلانو د کانون عمومي شورا ته دبشر د حقوقو په اړوند موضوعاتو کی مشوره ورکول

په دی پروژه کی لاندینی اداری د بي.اچ.ار.سي سره همکاري کړیده:

**د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون (AIHRC)**
د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون د بن د موافقو او د پاریس د اصولو پر اساس او د بشري حقوقود خوندي ساتلو لپاره د ۲۰۰۳ کال د جون د میاشتی په شپږمه د افغانستان د موقتي اداری په چوکاټ کي جوړ شوئ دئ. دا کمیسیون د بشر د حقوقو یوملي سازمان دئ چې د افغانستان د اساسي قانون په ۵۸ ماده کې په رسمیت پیژندل شوئ.

دا پروژه د لاندینی اداری په مادي مرسته جوړه شویده:

## د انګلستان د بهرنیو او کامنویلټ هیوادو اداره (FCO)
د انګلستان د بهرنیو او کامنویلټ چارو اداره په بهرکي د دې هیوادله ګټونه ساتنه کوي او له نړیوالو سازمانونو سره د یوې غښتلي نړیوالي ټولني په جوړولو کې مرسته کوي. دا اداره له نوروهیوادو او بین المللي ټولنو سره د اړیکو د ساتلو مسئولیت په غاړه لري.

**ژباړونکي : منیر، احمد**

# لمړئ فصـــل: په نړیوالو او کورنیو قوانینو کی حقوق

## الف) دبشر د حقوقو نړیوال قانون

### ۱. سریزه:د بشر د حقوقو قانون او ملګری ملتونه

دبشردحقوقو قانون د حکومت کوونکواو تر حکومت لاندی خلکوتر منځ اړیکو سره سراووکار لري. د لویدیزو هیوادو سیاسي نظریات او ارزښتونه او همداراز هغه قانوني اصول او سیاسي فرضیي چي د فرانسي او امریکا د انقلابونو راپدي خوا را منځته شوي د بشر د حقوقو دنړیوال قانون اساسات جوړوي . ددي قانون ارزښتونه او اصول د نورو هیوادو په تاریخ کي هم په ګوته کیداي شي.[۱] .

تر دوهمي نړیوالي جګړي وروسته دبشرد حقوقو قانون دیوه نړیوال قانوني نظام په توګه د ملګروملتونو په چوکات کي رامنځته شو. د ۱۹٤۵ کال داکتوبرپه ځلوروېشتمه نیټه ۵۱ هیوادو ژمنه وکړه چي د ګډ امنیت او بین المللي همکارئ له لارې سوله وساتي او د ملګرو ملتو موسسه پې جوړه کړه. نن د نړئ نږدې ټول هیوادونه د ملګروملتونو غړي دي چي شمیر یې ۱۹۱ ته رسیږي.

د ملګروملتونوغړیتوب ته دمنلو په وخت کي هردولت د۱۹٤۵ کال د ملګرو ملتونود منشور دمسئولیتونو د منلوژمنه کوي. دا منشور یو نړیوال تړون دي چي د بین المللي روابطو اساسي اصول یې په ګوته کړي دي.

د ملګرو ملتونود منشورپه لمړئ ماده کي راغلي دي:

"د ملګرو ملتونواهداف دادي چي:

١- نړیواله سوله اوامنیت وساتي؛
٢- د ملتونو تر منځ دوستانه اړیکي رامنځته کړي؛
٣- د نړیوالو کړکیچونو د حل او د بشر د حقوقو ددرناوي په لاره کي همکاري وکړي؛ او
٤- د ملتونو د فعالیتونو د هماهنګی مرکز وي".[۲]

د ملګرو ملتونو د منشور په ۵۵ ماده کي راغلي چي ملګري ملتونه "باید بې له نژادي،جنسي،ژبنیو او مذهبي تبعیضونو څخه د بشرحقوق او اساسي آزادئ رعایت کړي او د هغوئ دره ناوي ته پراختیا ورکړي". همدا رازپه ۵٦ ماده کي " ټول غړي هیوادونه ځان مکلف بولي چې په ځانګړي

[۱] دلته مراجعه وکړئ: ستاینر، ح. ج. و آستون، پ، د بشر بین المللی حقوق په متن کی ، سیاست قوانین او اخلاقیات. دوهم چاپ ، آکسفورد،د آکسفورد د پوهنتون مطبعه ، ۲۰۰۰ کال

[۲] دلته مراجعه وکړئ: http://www.un.org/aboutun/charter/

اويا ډله ايزه توګه د ملګروملتونو د موسسي سره د ٥٥مادې د اهدافودعملي کولولپاره همکاري وکړي".

٥٥ او ٥٦ مادي د ۱۹٤۸ کال د بشر د حقوقو د عمومي اعلامېي (UDHR) په تصويب سره لانورې غني شوې. د بشر د حقوقو د عمومي اعلامېي پر متن باندې د بيلابيلو هيوادو نماينده ګانو کارکړې. د ملګرو ملتونوپه اسنادوکي له ۱۹٤٦ څخه تر ۱۹٦٦ کالو پورې د عربي او اسلامي هيوادونود ډيپلوماتانو هڅې ثبت شوې دي.

د ملګرو ملتونو له لارې د نړۍ هيوادو ډيرې څوارخيزه موافقې لاسليک کړې په کومو کې چې هڅه شوې نړۍلاسوکاله،لامصئونه،د عدالت او لازياتوامکاناتوڅای وي.ملګرومل‌تونود نړيوالو قوانينو يوه بامفهومه مجموعه جوړه کړېده چې يوله هغو څخه د بشري حقوقو قانون دی.

(i) تـړونــونه

- دبشري حقوقومعيارونه په تړونونو،ميثاقونو،منشورونو او پروتوکولونوکي راغلي او کومو هيوادو چي هغه يي لاسليک کړي د هغو دمنلو او عملي کولو مسئوليت لري..
- تړونونه(لاندې وګورئ)ددولتونود تصويب يا راتيفيکيشن لپاره خلاص دي.
- راتيفيکيشن هغه بين المللي سند دئ په کوم کي چي يو دولت د يوه تړون د منلواعلام کوي. راتيفيکيشن يوه دولت ته لازم وخت ورکوي تر څوپه ملي سويه يو تړون ومنل شي اود هيواد قوانين په کورنۍ برخه کي ددې تړون د عملي کولو لپاره مساعد شي.
- د ريزرفيشن پروسه ريزرف کونکي هيوادته دا اجازه ورکوي چي دتړون ځيني برخې کمې او يا د هغو قانوني ارزښت ته په خپل هيوادکي تغير ورکړي. ريزرفيشن د تړون د امضأ، راتيفيکيشن، منلو او تصويبولو په وخت کي پيشنهاد کيدائ شي خو په دې شرط چې هغه د تړون د اساسي هدف سره په تضاد کې نه وي. برسيره پر دې په ځينو تړونونو کې ريزرفيشن منع دئ او يا هم داچي ځيني محدودو ريزرفيشنونو ته اجازه وي.[۳]

(ii) بي تړونه معيارات

- د بشري حقوقو ډير معيارات په تړونونو کې نه بلکه په غيراجباري بين المللي اسنادو لکه اعلاميو، اصولو او لايحو کې ذکر شوي دي.
- ترټولو مهمه يي د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو عمومي اعلاميه ده چي په ډيرو تړونونو، بي تړونه اسنادو او د هيوادونوپه اساسي قوانينو کي ئي انعکاس موندلئ دئ.
- بي تړونه معيارات د تړونونو په اندازه قانوني قدرت نه لري خو سره له دې هم د يوه ځواک په توګه ئي د هيوادونو تر منځ په خبرواترو کي مراعات کيږي او د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي هغه منلي دي.

[۳] دتړونونو د قانون په هکله د۱۹٦۹کال دويانا کنوانسيون د نړيوالوتړونونو په باب يو با اعتباره تړون دي چي د تړونونو د تصويب،تفسير او قانونيت طرزالعملونه ئي ټاکلي دي. د پوره متن لپاره دا سايت وګورئ: http://untreaty.un.org/ilc/texts/instruments/english/conventions/۱_۱_۱۹٦۹.pdf

- دبشري حقوقو ځيني معيارات د ډيرو هيوادوله خوا د بين المللي حقوقو د اساسي او منل شويو اصولو په څير شميرل کيږي.

(iii) خاص رپوټچي

- د بشري حقوقو اواساسي آزاديو د سرغړونې په اړوند د معلومات ورکولو مسئوليت د خاص رپوټچي په برخه دی.
- خاص رپوټچي د بشري حقوقو د کمسيون د رئيس له خوا د پنځو سيمه ايزو ډلو سره تر مشورې وروسته ګمارل کيږي.
- د خاص رپوټچي دندې له بشري حقوقو څخه د سرغړونوپلټنه، څارنه، مشوره او په ډاګه کول دي.
- خاص رپوټچيان د خپلو دندو د تر سره کولولپاره سيمو ته سفر کوي اودبشرد حقوقو کميسيون ته رپوټ ورکوي.

## ۲- ملګري ملتونه:د بشرد حقوقو قانوني وسيلې

دبشرد حقوقو عمومي اعلاميه (UDHR) ،دملکي اوسياسي حقوقونړيوال تړون (ICCPR) او د اقتصادي، ټولنيزو اوکلتوري حقوقو نړيوال تړون (ICESCR) هغه درې لويې قانوني وسيلې دي چې د "حقوقود نړيوال قانون" (International Bill of Rights) په نامه مشهوردئ.

ځينې نورې قانوني وسيلې هم شته چې د ځانګړو ډلود حقوقود ترپښنولاندې کولو سره سراوکارلري اوهغه دادي: د هرډول نژادي تبعيض د له منځه وړلونړيوال تړون(CERD)، د ربړونې (تعذيب)اونورو ظالمانه اوغيرانساني چلند او جزا پرضد تړون(CAT)، د ښځو پرضد د هرډول تبعيض دله منځه وړلو تړون (CEDAW) او دماشومانو د حقوققو تړون(CRC) دا دبشرد حقوقو له هغومهمو نړيوالوتړونونو څخه دي چې افغانستان لاسليک کړي اومنلي دي.

(i) د ۱۹٤۸ کال دبشر د حقوقو عمومي اعلاميه

دبشر د حقوقو عمومي اعلاميه[٤] چې په ۱۹٤۸ کال کې د ملګروملتونود عمومي اسامبلې له خوا اعلان شوې پر دولتونو باندې قانوني مسئولېتونه نه ږدي ، اما هغه هدفونه تعينوي چې هغوی ته د رسيدو لپاره بايد دولتونه کاروکړي. ددې اعلاميې ډيرې برخې د زياتو هيوادو له خوا د نړيوال جاري قانو ن په توګه منل شوېدي.

ادې اعلاميې د ښځواو نارينه و اساسي حقوق اوآزادی تعين کړې دي لکه د ژوند، آزادي او مليت حق، د فکري، شعوري او مذهبي آزادی حق، د زده کړې او کار حق، د ډوډی او کور حق، په

[٤] پوره متن دلته وګورئ: http://www.un.org/Overview/rights.html

دولتي چاروکې د برخه اخیستنې حق او د نژاد، رنګ، مذهب، سیاسي او نورو نظریاتو، ملي او ټولنیزې منشأ، ملکیت، زیږدنې او نورو حالاتو د تبعیض نه د خوندیتوب حق.

- افغانستان د خپل ۲۰۰٤ کال د اساسي قانون په اوومه ماده کې د بشر د حقوقو عمومي اعلامیه په رسمییت پیژني او ژمنه ئې کړې چې ددې اعلامیې او نورو ټولو هغونړیوالو تړونونو رعایت وکړي کوم چې افغانستان لاسلیک کړي دي.

(ii)　د ۱۹٦٦ کال د ملکي او سیاسي حقوقونړیوال تړون

ددې تړون په لومړۍ ماده کې[٥] راغلي چې ټول ولسونه د ځانواکمنۍ حق لري او دا په دې معنا چې خلک کولۍ شي خپل سیاسي دریځ وټاکي او د خپل اقتصادي، ټولنیز او کلتوري پرمختګ آزادي لري.په دې ماده کې دا هم راغلي دي چې دولتونه د ځانواکمنۍ د حق د تأمینولو مسئولیت لري.

د دوهمې برخې ۲-٥ مادې پر دولتونوباندې د ملکي اوسیاسي حقوقو د نړیوال تړون د محتویاتو د بې قید او شرطه منلو او ځینو نورو ملحوظاتو د عملي کولومسئولیت ږدي. له دې تړون څخه د سرغړونوسره د سراوکار مؤثرې لارې چارې هم ذکرشوېدي.

ددریمې برخې په ٦- ۲۷ مادو کې د ملکي او سیاسي حقوقو اوږد لست راغلئ چې لاسلیک کوونکي هیوادونه یې باید ساتنه وکړي.

د څلورمې برخې ۲۸-٤٥مادې د ملګروملتونو د بشرد حقوقود کمیټې جوړول تائېدوي او د لاسلیک کړوهیوادو له خواد ملکي او سیاسي حقوقو د تأمینولواو عملي کولو لارې چارې ښئي.

د عملي کولو لارې چارې د۱۹٦٦کال په لومړي خپلخوښې پروتوکول کې زیاتې شوې دي.
د ۱۹۸۹کال په دوهم خپلخوښې پروتوکول کې د لاسلیک کوونکوهیوادو له خوا داعدام د سزا د لیرې کولوفیصله شوې ده. لاسلیک کوونکو هیوادو ژمنه کړیده چې ددوی په دولتي ساحه کې به هیڅوک نه اعدامیږي او د اعدام د سزا د له منځه وړلو لپاره به ضروري ګامونه پورته کوي.

- افغانستان د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲٤ مه د ملکي او سیاسي حقوقونړیوال تړونلاسلیک کړ.[٦]
- افغانستان ددې تړون لومړئ او یا دوهم پروتوکول نه دئ لاسلیک کړئ.

٥ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/ccpr.htm
٦ د تړون په اړوند د افغانستان اعلامیه دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/ccpr.htm

(iii) د ۱۹٦٦ کال د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو تړون[۷]

ددې تړون لومړۍ ماده چې د ولسونو د ځانواکمنۍ په باره کې ده د ملکي اوسياسي حقوقو دنړيوال تړون د لومړۍ مادې سره يو رنګه ده؛ تر دې پرته په دې تړون کې نور حقوق اود لاسليک کوونکو هيوادو مسئوليتونه توپير لري.

د دوهمې برخې په ۲ ـ ۵ مادو کې د اقتصادي،ټولنيزو او کلتوري حقوقو په اړوند د دولتونووجائب ټاکل شوي ترڅو ددې حقوقو د پلي کوکو په لاره کې له توپيره پرته ګامونه پورته شي اوله انفرادي او بين المللي مرستو او همکاريو سره له کورنيو منابعو څخه اعظمې ګټه اوچته شي. ددريمې برخې په ٦ـ ۱۵ مادو کې د هغو اقتصادي، ټولنيزو اوکلتوري حقوقو پراخ لست څيور شوئ کوم چې بايد د لاسليک کوونکو هيوادوله خوا خوندي وساتل شي.

د څلورمې برخې ۱٦ـ ۲۵ مادې ګډون کوونکي هيوادونه دي ته هڅوي چې په دوراني دود د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو شوراته د تړون د عملي کولو په باب رپوټ ورکړي. د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو کميټه د (ICESCR) د تړون د عملي کيدو څارنه کوي.

افغانستان دغه تړون د ۱۹۸۳ کال د اپريل په ۲٤ مه لاسليک کړ. [۸]

(iv) د ۱۹٦٥ کال د ټولونژادي توپيرونو د له منځه وړلونړيوال تړون[۹]

دغه تړون د دولتونو له خوا د افرادو،ډلو او يا سازمانونو پر ضد د تبعيض مخنيوئ کوي او له دولتونو څخه غوښتنه کوي چې عامه موسسې او ادارې دې هم همدا شان چلندغوره کړي.

د نژادي توپير د له منځه وړلو کميټه د ګډون کوونکو هيوادو له خوا ددې تړون د عملي کولو څارنه کوي.

افغانستان د نژادي توپير د له منځه وړلو تړون د ۱۹۸۳ کال د آګست په ۵ لاسليک کړ.[۱۰]

(v) د ۱۹۸٤ کال د ربړونې(تعذيب) او نورو ظالمانه،غير انساني او تحقيرکونکو مجازاتو پرضد تړون

تعذ يب د نړيوال قانون له خوا ډير سخت غندل شوئ او د بشر له حقوقوڅخه يوه جدي سرغړونه بلل کيږي. د تعذ يب پر ضد تړون (CAT) کې د هيچا لپاره استثنا نشته[۱۱]. (CAT) تعذ يب

---

۷ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/cescr.htm
۸ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/cescr.htm
۹ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/cerd.htm
۱۰ ددې قانون په هکله د افغانستان اعلاميه دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/countires/ratification/۲.htm

تعریف کړي ، غوښتي ئې دي چې دولتونه باید په خپلو قوانینوکې هغه غیرقانوني اعلان کړي او دائي هم په ډاګه کړي چې په هیڅ ډول استثنائي حالت کې د تعذ یب لپاره برائت نشته.

د تعذ یب پر ضد کمیته د ګډون کونکو هیوادو له خوا ددې تړون د عملي کیدو څارنه کوي.

افغانستان د ۱۹۸۷ کال د جون په ۲٦ مه د سي.آی. تي تړون لاسلیک کړئ دئ.[۱۲]

(vi) د ۱۹۷۹ کال د ښځوپر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلو تړون[۱۳]

د ښځوپر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلو تړون د ښځو لپاره په نړیواله کچه منل شوي حقوق تعین کړیدي چې په هغو کې د ښځو او نارینو لپاره مساوي حقوق تضمین شوي دي. دغه تړون د ښځو پرضد د هرډول تبعیض نه مخنیوئ کوي او داسي اقدامات بې پیشنهاد کړي چې د کومو عملي کول به د نړی په هر ګوټ کې د ښځو حقوق تأمین کړي.

د ښځوپر ضد د تبعیض د له منځه وړلوکمیته د دغه تړون د عملي کیدو څارنه کوي.

افغانستان د ۲۰۰۳ کال دمارچ په پنځمه نیټه د غه تړون لاسلیک کړ.[۱٤]

(vii) د ۱۹۸۹ کال د ماشوم د حقوقو تړون[۱٥]

د ماشومانو د حقوقو ټول اړخونه په ځانګي رانغښتي له هغې جملې څخه
د ماشومانو ملکي،سیاسي،اقتصادي،ټولنیز او کلتوري حقوق. تړون دې ته هم ګوته نیولې چې د یوه حق تأمینول د نورو حقوقو له تأمینولو څخه نشي جلا کیدلئ.

دماشومانو د حقوقو کمیته د دولتونو له خوا د دغه تړون د عملي کیدو څارونه کوي.

افغانستان د ۱۹۹٤ کال د اپریل په ۲۷ مه د سي.آر.سي تړون لاسلیک کړئ دئ.[۱٦]

---

۱۱ پوره متن دلته وګورئ:http://www.ohchr.org/english/law/cat.htm
۱۲ دتعذیب پر ضد تړون په باب د افغانستان اعلامیه دلته وګورئ:
http://www.ohchr.org/english/countries/ratification/۹.htm
۱۳ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/cedaw.htm
۱٤ افغانستان د ښځو پر ضد دتبعیض د له منځه وړلو د تړون په باب تراوسه کومه اعلامیه نده صادره کړی.
نوري اعلامیې دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/countries/ratification/۸_۱.htm
۱٥ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/crc.htm
۱٦ د سي.آر.سي په باب د افغانستان اعلامیه دلته وګورئ:
http://www.ohchr.org/english/countries/ratification/۱۱.htm

## ب) د نــړیــوالــو حقــوقو د عملي کولــو لارې چارې

### ۱. سریزه

د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو په اړوند د هر تړون د عملي کيدو د څارني لپاره د ماهرانو يوه جلا کميټه جوړه شوي ده. دا کميټې د هغو تړونونو د پريکړو له مخي جوړې شوي د کومو چي دوی څارنه کوي. دا کميټې د تړونونو دشرايطوسره سم ګني دندې تر سره کوي چې ځيني ئې دادي:

- د ګډون کونکو هيوادو د رپوټ څيړنه
- د ځانګړو شکايتونو او ليکونو څيړنه
- د هيوادونو تر منځ د شکايتونو څيړنه
- د عمومي تبصرو خپرول

ټولي کميټي عمومي تبصرې يا پيشنهادونه صادروي چې د اړونده تړون با صلاحېته تفسير دی. دا کميټې حقوقي ارګانونه ندي ، يوازې کيدای شي نيمه قضائي وګڼل شي.په ټولو حالاتو کې د دولتي رپوټونوپه هکله نتيجه اخيستني ، دځانګړو شکايتونوپه هکله نظريات او همدا راز عمومي تبصرې او پيشنهادونه چې د بيلابيلو کميټو له خوا وړاندې کيږي اجباري نه دي او پيشنهادي بڼه لري. د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو سيستم يو ملايمه قانون دئ څکه چې د قضائي محاکمولـه خوا په مستقيمه توګه نه جاري کيږي خو سره له دې هم پر نړيوالو اړيکو او بين المللي حقوقو باندې اغيزه لري.

کميټو ته د رپوټ ورکولو يوه بله لاره هم شته چې هغه د انجيو ګانو او نورو له خواتر سره کيږي. دا اړخيز رپوټونه يوه مؤثره وسيله ده چې په هغو کي له دولت نه جلا دلې کولئ شي دولتي رپوټ وغندي اوپا پکي کوم څه زيات کړي. د رپوټ ورکولودې ميکانيزم له مخي دولتونه ځان د خپلو خلکو او ملګرو ملتونو په وړاندې مسئول ګڼي نو څکه هم دا رپوټونه د دولتي رپوټونو په شان با ارزښته دي. د بيلابيلو هيوادونو انجيو ګانو ددولتي رپوټونو تر څنګ اړخيز رپوټونه وړاندې کړي دي.

### ۲. ملګرې ملتونه:د بشر د حقوقو اورګانونه

(i) د بشر د حقوقو کميټه

د بشر د حقوقو کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د ملکي او سياسي حقوقو د تړون عملي کول دا ډول څاري:

- رپوټونه وړاندې کول – ٤۰ مه ماده
- د دولتونو تر منځ شکا يتونه –٤۱ مه – ٤۳ مه ماده
- ځانګړي شکايتونه ـ لومړئ خپلخوښي پروتوکول

(ii) د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو کميټه

د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د تړون عملي کول دا ډول څاري

- رپوټونه وړاندې کول–١٦ مه ماده
- ځانګړي شکايتونه ـ د لومړي خپلخوښي پروتوکول مسوده

په اوسني وخت کې دا کميټه نشي کولئ ځانګړي شکايتونه و څيړي، مګر د يوه خپلخوښي پروتوکول مسوده تر کار لاندې ده.

(iii) د نژادي تبعيض د له منځه وړلو کميټه

د نژادي تبعيض د له منځه وړلو کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د (CERD) د تړون عملي کول دا ډول څاري:

- رپوټونه وړاندې کول – ۹ مه ماده
- د دولتونو تر منځ شکا يتونه – ماده های ۱۱ مه– ۱۳ مه ماده
- ځانګړي شکايتونه ـ د لومړئ خپلخوښي پروتوکول ۱٤مه ماده
- وختي خبر داریٔ او عاجل طرزالعملونه

وختي خبر داریٔ او عاجل طرزالعملونه وقائوي تد بيرونه دي چې موخه يي له روان حالت څخه کړکيچ ته د بنوئيدو مخنيوئ اوله تړون څخه د جدي سرغړوني د محدودولو او يا مخنيوي لپاره د بيړنيو اقداماتو نيول دي.

(iv) د تعذ يب پر ضد کميټه

د تعذ يب پر ضد کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د (CAT) د تړون عملي کول دا ډول څاري:

- رپوټونه وړاندې کول –۱۹ مه ماده
- د دولتونو تر منځ شکا يتونه ـ د خپلخوښي پروتوکول ۳۰مه ماده
- ځانګړي شکايتونه ـ د خپلخوښي پروتوکول ۲۲مه ماده
- بيړنی پلټني– ۲۰ مه ماده
- خپلخوښي پروتوکول ـ په ۲۰۰۲ کال کي منل شوئ او د لاسليک کولو لپاره خلاص دئ.

د خپلخوښي پروتوکول به يوه فرعي کميټه جوړه کړي کومه به چې د ملي ادارو سره په همکاري د هيواد دننه د زندانونو تفتيش کوي.

(v) د ښځو پر ضد د تبعيض د له منځه وړلو کميټه

دا کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د (CEDAW) د تړون عملي کول دا ډول څاري:

- رپوټونه وړاندې کول – ماده ١٨
- پيشنهادونه – ماده ٢١
- ځانګړي شکايتونه ـ د خپلخوښي پروتوکول
- پلټنه ـ د خپلخوښي پروتوکول

(vi) د ماشوم د حقوقو کميټه

دا کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د ماشوم د تړون عملي کول دا ډول څاري:

- رپوټونه وړاندې کول ـ ٤٤ مه ماده

## ج) د بشر د حقوقو سيمه ايز تړونونه او څارونکي ارګانونه

**١. سريزه**

د ملګرو ملتونو د بشر دحقوقو د تأمينولو پر ميکانيزمونو سر بيره په افريقا، امريکا او اروپا کې د بشري حقوقو سيمه ايز تړونونه هم چلند لري. په دې تړونونو کې خوندي شوي حقوق د بشر د حقوقو د نړيوال قانون څخه نقل شوي او هغو ته ورته دي. له دې تړونونو څخه هر يوه خپلې ځانګړې لارې چارې غوره کړې ترڅو په ملي محاکمو کې د بشري حقوقو خوندي ساتل تأمين شي. د بشرد حقوقودرې عمده سيمه ايز تړونونه دادي: د افريقا د بشری او ولسونو د حقوقو منشور (افريقايي منشور) ،د امريکا د لويې وچې د بشر د حقوقو تړون (ACHR) او د بشر د حقوقواو اساسي آزاديو د ساتنې اروپايي تړون (ECHR).

## ۲. سیمه ایز تړونونه او څارونکی ارګانونه

(i) افریقا

- د افریقا منشور په ۱۹٦۱ کال کې تصویب شوئ دئ او د افریقا د بشری او ولسونو د حقوقو د کمیسیون له خوا ئې څارنه کیږي.
- دا کمیسیون د دولتونو، ځانګړو افرادو او سازمانونو له خوا لیکونه چې د یوه دولت له لوري په منشورکي پرخوندي شوو حقوقواندي د تیري په هکله وي راټولوي او څیړي یې. انجیوګاني او انفرادي کسان هم کولئ شي د کمیسیون په وړاندي وینا وکړي. د کمیسیون وروستی پریکړې د پیشنهادونو په نامه یادیږي او د اړونده هیوادو لپاره اجباري قانوني بڼه نه لري.
- په منشورپورې اړونده پروتوکول د افریقا د بشراو ولسونو د حقوقو محکمه جوړه کړیده دا محکمه ددې ځواک لري چې د ګډون کونکي هیواد یا په منشور پورې تړلي سازمان او یا د بشر د حقوقو کوم بل افریقایې اورګان په غوښتنه مشورتي نظریه صادره کړي.

(ii) امریکا

- د امریکا د لویې وچې د بشر د حقوقو تړون په ۱۹٦۹کال کي تصویب شوئ دئ اود امریکا د لویې وچې د بشردحقوقوکمیسیون ته درپوټونواودوسیودڅیړلودنده سپاري.
- د امریکا د لویې وچې د بشردحقوقوکمیسیون یو له هغو دوو سازمانونو څخه دئ چې د بشر د حقوقو د خپرولو او ساتلو دنده لري. دا کمیسیون د بشر له حقوقو څخه د سرغړونو تورونه راټولوي، د امریکا د لویې وچې محکمې ته دوسیې وړاندې کوې او په قضایې محاکمو کې د دې دوسیو د څیړلو په مهال حاضریږي.
- د امریکا د لویې وچې د بشر د حقوقومحکمه مشورتي او قضاوتي صلاحیت لري او د تړون د موادو له مخې هغه موارد څیړي په کومو کې چې پر یوه ګډون کونکي هیواد د تړون له حقوقو څخه د سرغړونې تور لګیدلې وي.

(iii) اروپا

- د بشر د حقوقواو اساسي آزادیو د ساتنې اروپایي تړون په ۱۹۵۳ کال کي تصویب شویدئ. ددې تړون منل یا راتیفیکیشن د اروپا په شوراکي د شاملیدو شرط دئ.
- دې تړون د اروپا د بشردحقوقومحکمې ته دمواردودڅیړلوصلاحیت ورکړئ دئ. دا محکمه په تړون کې دګډون کوونکي دولت اویا انفرادي کسانوهغه شکایتونه اوري په کومو کې چې دوی په تړون کې د راغلو حقوقو څخه دسرغړونې د قرباني توب ادعا لري.
- کدا محکمه همدا راز د وزیرانو د کمیټې په غوښتنه د تړون او د هغه د پروتوکولونو د تفسیر په اړوند د قانوني مسئلوپه باب مشورتي نظر ورکولئ شي.دولتونه ددې محکمې د وروستي قضاوت په وړاندې مکلفیت لري ، خو دا قضاوت نه شي کولئ چې ملي پریکړې شنډې او کورني قوانین لغوه کړي.

(iv) دعربي هیوادونو اتحادیه

په ۱۹۹٤ کال کي دعربي هیوادونواتحاد ېپي ددغوهیوادونود بشردحقوقومنشور تصویب کړ. د دې منشور څارونکئ میکانیزم د بشر د حقوقو د ماهرانو یوه کمیټه ده چي په دریو کالو کي یو ځل د ګډون کونکو هیوادو له خوا وړاندي شوي رپوټونه څیړي. د دې منشور راتیفیکیشن لا تر اوسه ندئ شوئ او په عربي سیمه کي د بشر د حقوقو کمیسیون او محکمه فعالیت نه لري.

(v) د اسلامي هیوادو د کنفرانس سازمان

د اسلامي هیوادو د کنفرانس سازمان په ۱۹۹۰کال کي د بشرد حقوقو په باب د قاهرې اعلامیه تصویب کړه چي په هغي کي د اسلامي شرعیت قانون د بشر د حقوقو یوازینئ سرچینه منل شوي ده. دا اعلامیه د بشرد حقوقودعمومي اعلامیي په هکله د یوه عکس العمل او د هغي داسلامي همکار په توګه شمیرل کیږي.

## د) دافغانستان په اساسی قانون کی حقوق

### ۱. سریزه

د ا فغانستان په تاریخ کي د ۱۹۲۳کال نه راپدیخوا په بیلابیلو اساسي قانونونو کي اساسي حقوق شامل ؤ. د افغانستان د نوي اساسي قانون لپاره د ملګرو ملتونو د بن پروسي لاره اواره کړه. د بن پروسي تر ۲۰۰٤کال پورې د یوه پراخه، څو ملیتیز او د خلکو د پوره استازیتوب دولت د جوړولو اساسي چوکاټ غوره کړ. د بن په موافقوکي د اساسي سیاسي پروسو په هکله پریکړې شاملي دي او د هغو له مخي د دولت جوړولو د پروسي سره د مرستي کمیسیونونه وټاکل شول : د اساسي قانون کمیسیون، د بشر د حقوقو کمیسیون، د ملکي خدمتونو کمیسیون او د قضایي اصلاحاتو کمیسیون.[۱۷]

د اساسي قانون د مسودي د جوړولو کمیسیون د ۲۰۰۲ کل د اکتوبر په میاشت کي د ۹ کسانو په ترکیب چي د جمهور رئیس له خوا ټاکل شوي ؤ په خپل کار پیل وکړ. ددې کمیسیون دنده دا وه چي د ۲۰۰۳ کال د مارچ د میاشتي تر ۳۱ پورې د قانون مسوده جوړه او جمهور رئیس ته یي وړاندې کړي. دا مسوده باید د ۱۹٦٤ کل د اساسي قانون پر بنیاد یوازې د افغانانو له خوا جوړه شوې وای. د ۲۰۰۳ کال په اپریل کي دا کمیسیون د اساسي قانون د بررسی په کمیسیون بدل شو چي ۳۵ غړي یي درلودل.

۱۷ دا مأخذوګوری: Wardak, Ali, ‘Building a post-justice system in Afghanistan’ in *Crime, Law and Social Change* ٤١, pp.٣١٩-٣٤١, ٢٠٠٤

## ۲. د ۲۰۰٤ کال اساسی قانون

د افغانستان نوئ اساسي قانون د ۲۰۰٤ کال د جنورئ په ۲٦ مه نیټه د جمهور رئیس حامد کرزي له خوا لاسلیک او اعلان شو. نوئ اساسي قانون د اسلام ، دموکراسی او بشري حقوقو پر بنسټ ولاړ او دولت ته دا دنده سپاري چې د بشر د حقوقو دره ناوئ وکړي.

د قانون په اوومه ماده کې د نړیوالو حقوقو په باب داسي راغلي:

(۱) " دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بین الدول د معاهدو، د نړیوالو میثاقونو چې افغانستان د هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي".

د نوي اساسي قانون په دوهم فصل کې د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره اساسي حقوق شامل دي ("د اتباعو اساسي حقوق او وجایب" ۲۲ ـ ۵۹ مې مادې). په دې فصل کې د مساوات، ژوند، آزادئ، بشري کرامت، د ذمي برائت، د تعذ یب منع، د انتخاباتو ، زده کړې، کار، د اجباري کار منع او کورنی حقوق شامل دي.

د اساسي قانون ۵۸ مادې له مخې د افغانستان د بشرد حقوقو خپلواک کمیسیون جوړشوئ تر څو په افغانستان کې د بشر د حقوقو د رعایت څارنه او ملاتړ وکړي. دا ماده هر چاته اجازه ورکوي چې د خپلو اساسي حقوقو د نقض په باره کې کمیسیون ته شکایت وکړي. کمیسیون کولای شي د افرادو د اساسي حقوقو د نقض موارد قانوني مربوطو ځانګو ته راجع کړي او د هغوی له حقوقو څخه په دفاع کی مرسته وکړي.

# دوهم فصل: په قانونی سیستمونو کی تضادونه

## الف) دحقوقودقانون الویت – داساسی قانون مقایسوی اړخ

### ۱. سریزه:

اساسي قانون له دي سره چي مونږ ځنګه خپل حکمروایان ټاکو، حساب ترې غواړو او معزول کوو ئي او همدا راز د حکمروایانو په وړاندې د افرادو د حقوقو سره ارتباط لري. اساسي قانون د هغو اصولو او قواعدو مجموعه ده چي د حکومت خصلت او صلاحیت ټاکي. په اکثرو اساسي قوانینوکي د دولتي جوړښتونو او په خاص ډول د اجرائيه، مقننه او قضائيه قواوؤ تر منځ او همدا راز د دغو ځانګو د داخلي ادارو تر منځ اړیکي تنظيم شويدي. په ډيرو اساسي قوانينو کي هڅه شويده چي د دولت او افرادو ترمنځ اړیکي تعريف او د اتباعو پراخ حقوق تأمين شي. له همدې کبله اساسي قانون د بيلابيلو ډلو تر منځ قدرت ته د رسيدو لپاره د اختلافونو او د حکمروايانو او افرادو تر منځ د اختلافونو سره سراوکار لري. د يوه اساسي قانون حقوقي او سياسي اړخونه يو له بل سره ارتباط لري او دواړه د عدالت او انصاف د مفکوروغوښتونکي دي.[۱۸]

ليکل شوئ اساسي قانون يو واحد سند دئ چي د دولت د اداري اساسي اصول پکي شامل دي او په هيواد کي تر ټولو لوړ حقوقي مقام شميرل کيږي. د فرانسي د۱۷۸۹ کال له انقلاب نه راپديخوا نږدې ټولو هيوادونو ليکل شوي اساسي قوانين تدوين کړي چي په ډيرو مواردو کي د يوې مهمي پيښي لکه له استعمار څخه د خپلواکی اخيستلو نښانه ده. بريتانيا له دې امر څخه مستثنی ده ځکه چي ليکلي اساسي قانون نه لري. افغانستان، هند او پاکستان د جنوبي آسيا د هغو هيوادو څخه دي چي اساسي قوانين لري. د افريقا، آسيا او منځني ختيځ په هيوادو کي تر استعماري واکمنی وروسته د اساسي قانون او بين الدول حقوقو تر منځ اړيکي په ښکاره ډول ځرګندې دي. دې هيوادونو د بشر د حقوقو عمومي اعلاميه په خپلو اساسي قوانينو کې تکرار کړې ده.

### ۲. د قانون حاکميت

مشروطيت د محدود شوي حکومت په معنا ده چي د هغي له مخي د قانون حاکميت او د ځواکونو ويش د حکومت د کنترولولو او محدودولو وسيلي دي. د قانون حاکميت پر هغو عمومي قواعدو ټينګار کوي د کومو رعايت چي په دولت او افرادو باندې يو شان دئ. د قانون حاکميت له قوانينو څخه دا غواړي چي ځينو معينو اساسي ارزښتونو ته چي ددغو قوانينو له ماهيت څخه سرچينه اخلي د لاربښودونکو قواعدو په توګه انعکاس ورکړي.

---

۱۸ دا مأخذوګوری (۱۸): Alder, J., *Constitutional and Administrative Law* (Hampshire: Palgrave Macmillan, ۲۰۰۵).

د قانون حاکمیت د قضا خپلواکتوب ته وده ورکوي. پر قضائیه ځواک ددې مسئولیت اعتبار شوې دئ چې په بیطرفه توګه د یوې ټولنې اساسي ارزښتونه وساتي.

د قانون د  حاکمیت یو خورا مهم اړخ دادئ چې هغه د قوانینو د بدلولو د صلاحیت په شمول د حکومت ټول اختیاري صلاحیتونه محدودوي. د قانون حاکمیت د اجرائیه قوې د خودسرانه اعمالو مخنیوئ کوي، د عمومي او د اقلیتونو د حقوقو ساتنه کوي او ټولنیز ثبات او لرلید ته وده ورکوي.

**۳. د ځواکونو ویش**

د ځواکونو ویش د یوه دولت د اداره کولو موډل دې چې د هغه له مخې سیاسي ځواک د اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوؤ تر منځ ویشل شوئ دئ. ددې موډل له  مخې هره څانګه ځان ته ځانګړئ او خپلواک ځواک او د مسئولیت ساحه لري، خو بیا هم د حکومت هره څانګه باید کنترول شي تر څو یو ځواک پر بل لاس بري ونه لري.

د ځواکونودویش د دکترین له مخې د حکومت اجرائیه قوه د قوانینود تطبیق اوعملي کولواود دولتي روزمره چارود پرمخ بیولومسئولیت لري. اکثرأ د حکومت د اجرائیه قوې وظایف داوي: د پولیسو او زندانونو د ادارې له لارې د قانون عملي کول، ددولت په نامه د مجرمینو عدلي تعقیب،ددولت د بهرنیو اړیکو پرمخ بیول،د وسله والوځواکونوقومانده، د قاضیانواو ډیپلوماتانو په شمول د د دولتي کارکونکو تعینول، ددولتي مؤسسواوعامه خدماتو اداره کول او د اجرائیوي دساتیرو، مقررو او فرمانونو چې فرعي قوانین هم ورته وایي صادرول.په ډیرو اساسي قوانینو کې دا راغلي چې ځینې اجرائیوي دندې باید د مقننه قوې سره په ګډه تر سره شي.

مقننه ځواک ددولت یوه مباحثوي غونډه ده چې د قوانینو د تصویب صلاحیت لري. په پارلماني سیستمونو کې مقننه قوه برتري لري او اجرائیوي قوه ټاکي. د حکومت په جمهوري سیستم کې مقننه قوه له اجرائیه قوې سره مساوي او خپلواکه وي. مقننه قوه قوانین تصویبوي او د بین الدول تړونونو د لاسلیک او یا هم د جنګ د اعلان لپاره د هغې پریکړه حتمي ده.

قضائیه قوه د محکمو له سیستم څخه عبارت ده چې  عدالت تأمینوي او د لانجود حل یو میکانیزم دئ. ددې سیستم مرکزي کړئ  قاضیان، مفتیان او د محاکمو  رئیسان دي. د ځواکونودویش د دکترین له مخې قضائیه قوه د حکومت هغه څانګه ده کومه چې د قانون د تفسیر مسئولیت لري

**٤. د اساسي قانون محکمې**

اساسي قانون اکثرأ د سترې محکمې، داساسي قانون د محکمې او یا د عالي دیوان له خوا ساتل کیږي. دا محکمې د اساسي قانون د اصولو او احکامو سره د نویو قوانینو د تطابق څارنه کوي. د سترې محکمې تر ټولو مهمه دنده داده چې په اساسي قانون کې د حقوقو او آزادیو ساتنه وکړي. د "اساسي قانون نقضول" یو داسې عمل یا حقوقي سند  دئ چې د محکمې له خواد اساسي قانون مخالف وبلل شي نو ځکه هم "غیرقانون اساسي" بلل کیږي.

د اساسي قانون محکمه وروستۍ قضائي مرجع ده او د دولت تر ټولو لوړ قضائي ارګان بلل کيږي. د اساسي قانون محکمې په ډيرو هيوادو کې د قضائي تجديدنظر او دبشر د حقوقو ددفاع ځواکمن ارګانونه دي چې کولای شي ملي قوانين د اساسي قانون د روحيې مخالف اعلان کړي. دا صلاحيت په بيلابيلو هيوادو کې يو شان نه دی، خو سره له دې هم دا محکمه کولئ شي يو قانون غير مرعی الاجرا وګنې. له دې امله د اساسي قانون محکمه د بشر د حقوقو په ساتلو او د انساني کرامت،مساوات او آزادی د هغو دموکراتيکو ارزښتونو په تأمينولو کې مهم رول لري کوم چې د بشر د حقوقو له نړيوال قانون څخه کورنيو حقوقي سيستمونو ته نقل شوي دي.

## ب) حقوقي پلوراليزم

### ۱. سريزه

حقوقي پلوراليزم په حقوقي سيستمونوکې هغه حالت ته وائي چيرې چې دوه يا څو قانونه يو له بل سره ګډ عمل وکړي. دا په دې معنا ده چې له يوې خوا دولتي قانون انفرادي چلند تنظيموي او له بلې خوا دولت شخصي عرفونو او قوانينو ته په ځينو خاصو ټولنو کې تر يوه معين حده پورې اجازه ورکوي. دا ډول سيستمونه په خپلواکه توګه او اکثرأ يو له بل سره ګډ عمل کوي او په معاصرو ټولنو کې چې بيلابيل قومي او مذهبي ترکيبونه لري په وضاحت سره ليدل کيدای شي.[۱۹]

حقوقدانان دا وايي چې د معاصرو ټولنو قضائي سيستم د يوه واحد سيستم په توګه نشي تعريف کيدای. دولت نشي کولئ ټول قوانين کنترول کړي ځکه چې د قانونی اصولوکلتوري او ټولنيز اړخونه تر بهرني کنترول لاندې نشي راتلای. دا کلتوري دودونه له دولتي چارو نه جلا وده او پرمختګ کوي. په قانوني پلوراليزم کې بيلابيل سيستمونه هم په هماهنګ ډول يو له بله سره ګډ عمل کوي او هم کله ناکله يو له بل سره په تضاد کې واقع شي. دا کلتوري توپيرونه په دغو دريو سطحو کې فعاليت کوي: رسمي قوانين، غيررسمي قوانين او حقوقي بديهيات.

### ۲. رسمي قوانين، غير رسمي قوانين او حقوقي بديهيات

رسمي قوانين د يو هيواد د قانوني مقاماتو له خوا وضع کيږي او اکثرأ د تورليک د قانون په نامه يادېږي. نژادي، کلتوري او مذهبي رواجونه په هغو غيررسمي قوانينو کې انعکاس پيدا کوي چې د دولت له خوا په ځرګنده توګه ندي وضع شوي. خو سره له دې هم دا قوانين په خپلواکه توګه عمل کوي او حتی د دولتي رسمي قانون پر تدوين باندې هم اثر لري.

که څه هم غيررسمي قوانين دمقاماتو له تصويب نه پرته عمل کوي اما د هغو خلکو د عمومي ګډنظر له خوا چې هغوی يې منلي دي وضع شوي. دا عمومي ګډ نظر چې بنائي شعوري او يا غيرشعوري رعايت شي کولئ شي ددولت قانون بدل او يا لغوه کړي.

---

[۱۹] دا مأخذوګوری Menski, W. F., *Comparative Law in a Global Context* (London: Platinum Publishing Limited, ۲۰۰۰).

حقوقي بديهيات تكميلي بنه لري او د ارزښتونو د يوه داسي سيستم پر بنسټ ولاړ دي چې له يوه خاص رسمي او يا غيررسمي قانون سره ارتباط ولري لکه طبيعي عدالت، اخلاق او مساوات. دا بديهيات په خاص ډول له حقوقي دعواکانو سره تړاو لري او افراد دې ته هڅوي چې خپلې لانجې په دوديزه توګه او له محکمي څخه د باندې حل او فصل کړي.

## ج) په افغانستان کې حقوقي پلوراليزم

### ۱. سريزه: د قانون منابع

که څه هم په افغانستان کي د قانون رسمي منابع دولتي قانون او شريعت دئ اما عرفي قوانين د افغاني ټولني د ټولنيز نظم په ساتلو کي رول لوبوي.[۲۰]

شريعت د الهی له هداياتو نه سرچينه اخلي. د اسلامي قانون منابع دادي: ۱) قرآن کريم، ۲) سنت (د حضرت محمد احاديث او کردار)، ۳) اجماع (د اسلامي عالمانو عمومي ګډ نظر) او ٤) قياس (مقايسوي استدلال). د شريعت زياته برخه د قياس وروستی نتيجه ده. په سني اسلام کې څلور مذهبونه شته. د افغانستان اکثريت خلک د حنفي مذهب پيروان دي.

دولتي قوانين د حقوقي موازينويوه مجموعه ده چي رسمأ وضع شوی او له قاعده وي دساتيرو لکه مذهب او د خودمختاره او نيمه خودمختاره اجتماعي ډلو د نورو رسم او رواجونو سره شباهت لري. عرفي قوانين هغه رسم او رواجونه او دودونه دي چي د کلونو په ترڅ کې په يوه هيواد کې د ټولنيز چلند د نورمونو په توګه منل شوي دي. دا قوانين اکثرأ د کاغذ پر مخ ندي ليکل شوي اما کولئ شي په ټولنه اغيزه وکړي او ددولتي قوانينو پر تطبيق اثر واچوي.

### ۲. د قوانينو تر منځ متقابل عمل

په تاريخي لحاظ د افغانستان عدلي نظام د اسلامي قانون پر بنسټ ولاړ ؤ. دا قانون ليکل شوئ نه ؤ او د قاضيانو له خوا عملي کيده. اسلام هغه ايډيولوژيک چوکاټ جوړ کړ کوم چي د افغاني عنعناتو په رڼا کې تعبير او تفسير شو.عرفي قوانين د جرګو او شوراګانو له خوا اداره کيدل چي د ټولنيز نظم په ساتلو کې ئې مهم رول لوبولئ دئ. له همدې کبله په داسي حال کې چي قبيلوي او قومي قوانينو د افغانستان په حقوقي سيستم باندې سخته اغيزه کړی، د قانون تر ټولو لوړه منبع د نورو اسلامي ټولنو په شان خدای پاک او پيغمبر ؤ.

د شلمي پيړۍ په لمړي سر کې دولت د شريعت قانون (د حنفي تعبير له مخې) او تر يوڅه حده عرفي قوانين سره راغونډ کړل او د افغانستان د حقوقي او عدلي سيستم بنسټ يې کيښود. اسلامي عالمانو دوه دندې لرلې: د شريعت تعبير او تفسير او په دولتي محکمو کې د قاضي مسئوليت. په همدې دوره کې د افغانستان لومړئ اساسي قانون هم نافذ شو.

---

۲۰ دا مأخذوګوری (۲۰): Wardak, Ali, 'Building a post-justice system in Afghanistan' in *Crime, Law and Social Change* ٤۱, pp.۳۱۹-۳٤۱, ۲۰۰٤

**٣. د اساسي قانون الويت**

د نوي اساسي قانون مادې حكم كوي چې دولت د ټولنيز عدالت، انساني كرامت په ساتلو، د بشري حقوقوپه ملاتړ، د ولسواكۍ په تحقق، د ملي وحدت په تأمين او د ټولو قومونو او قبايلو تر منځ د برابرۍ پر بنسټ ديوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مكلف دی.

په دريمه ماده كې راغلي:
"په افغانستان كې هيڅ قانون نشي كولای چې د اسلام د سپيځلي دين دمعتقداتو او احكامو مخالف وي."

په پنځمه ماده كې راغلي:
"ددې اساسي قانون او نورو قوانينو د حكمونو تطبيق ، له استقلال ، ملي واكمنۍ او ځمكنۍ بشپړتيا څخه دفاع، د هيواد د امنيت او دفاعي قابليت تأمين د دولت له اساسي وظيفو څخه دي."

د ملي او بين المللي قوانينو تر منځ اړيكي په دې تعهد كې څرګنده دي چې دولت بايد د ملګرو ملتونو د منشور، د بشر د حقوقو د عمومي اعلاميې او د ټولو لاسليک كړيو بين الدول معاهدو او ميثاقونو رعايت وكړي.

# دریم فصل:دښځواوماشومانوحقوق

## الف) دښځودحقوقونړیوال قانون

### ۱. سـريـــــزه

د بشر د حقوقو نړیوال قانون په رسمیت پیژندلي چي ښځي بیله تبعیضه د نارینو سره مساوي حقوق لري. همدي قانون د بشر له حقوقو څخه په استفاده کي هر ډول تبعیض او توپیر منع کړئ دئ. د ښځو لپاره د حقوقو مساوات د ملګرو ملتونو د منشور بنسټیز اصل دئ او د بشر د حقوقو نړیوال قانون د ښځو پر بشري حقوقو باندي نور هم ټینګار کړئ دئ.[۲۱]

خو سره له دي د نړی په بیلابیلو سیمو کي د ښځو پر ضد د تبعیض د نویو ډولونو په رامنځته کیدو سره دا احساس شوه چي په نړیواله کچه د ښځو منل شوي حقوق په کافي اندازه ندي خوندي شوي. د ښځو د حالاتو کمیسیون[۲۲] له خپل تأسیس څخه راپدیخوا هڅه کړیده چي د ښځو د تبعیض پر ضد عمومي تضمینونه تعریف او په هغو وسایلوکي یي ونغاړي کوم چي د ښځو په حقوقو پوري اړه لري.ددي کمیسیون د کارپه نتیجه کي ځیني مهمي اعلامیي او میثاقونه صادر شول کوم چي د ښځو د بشري حقوقو ساتنه کوي.

هغه نړیوالي حقوقي وسیلي چي په خاص ډول د ښځو حقوقو ته متوجه دي دادي:

- د ۱۹۷۹ کال د ښځو پر ضد دټولو تبعیضونو د له منځه وړلو تړون(تر ۲۰۰۶ کال پوري ۱۸۲ هیوادونه).
- د ۱۹۹۹ کال د ښځو پر ضد د دټولو تبعیضونود له منځه وړلود تړون د خپلخوښي پروتوکول (تر ۲۰۶ کال پوري ۷۷ هیوادونه)

### ۲. د ۱۹۷۹ کال د (CEDAW) تړون

په ۱۹۷۹ کال کي د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي د د ښځو پر ضد دټولو تبعیضونو د له منځه وړلو تړون چي ټول د ښځو پر ضد د تبعیض په باره کي دئ تدوین کړ. دا تړون چي د ۱۸۲ هیوادو له خوا منل شوی دی پر ګډون کونکو هیوادو باندي دا حقوقي مسئولیت ږدي چي د ښځو پر ضد تبعیض له منځه یوسي او هغوی ته دا موقع مساعده کړي چي له خپلو ملکي، سیاسي،

---

۲۱ دا مأخذوګوری: Charlesworth, H. and Chinkin, C., *The boundaries of international law. A feminist analysis* (Manchester: Manchester University Press, ۲۰۰۰).

۲۲ د ښځو د حالاتو په باب کمیسیون د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزي شورا د یوه فعاله کمیسیون په توګه جوړ شو تر څوپه سیاسي،اقتصادي،مدني،اجتماعي اود ښووني او روزني برخو کي د ښځو د حقوقو په باب شورا ته ریپوټونه او تجویزات وړاندې کړي.

اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو څخه په عامه او شخصي ژوند کې ګټه واخلي. دا تړون ډیر ریزرفیشنونه لري. افغانستان د ۲۰۰۳ کال دمارچ په پنځمه نیټه دا تړون لاسلیک کړئ خو تر اوسه یې د هغه د محتویاتو په باب کومه اعلامیه او یا ریزرفیشن نه دئ صادر کړئ.

ددې تړون په لمړۍ ماده کې د ښځو پر ضد تبعیض داسې تعریف شوئ:

هر ډول تجرید ،استثنا او یا محدودیت چې د جنس پر بنسټ وي او هدف یا تاثیر ئې پر ښځو باندې د هغوی له بشري حقوقو او په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري، مدني او نورو ساحو کې د اساسي آزادیو له درلودلو، استفادې او په رسمیت پیژندنې نه محروموِل او بې برخي کول وي.

دوهمې مادې هغو عدلي او نورو تدابیروته اشاره کړی کوم چې باید د تړون د ګډون کونکو هیوادونو له خواو نیول شي تر څو د ښځو پر ضد تبعیضونه له منځه ولاړ او د نارینو سره د هغوی مساوات تأمین شي. له هغو تدابیرو څخه ځینی دادي:

- په ملي اساسي قوانینو او نورو اړونده حقوقي اسنادو کې د ښځو او نارینودحقوقو د مساوات اصل شاملول؛
- له نارینو سره د ښځو د مساوي حقوقو د خوندي ساتنې لپاره د قانوني وسیلو ایجادول او د هرډول تبعیضي عمل په وړاندې له ښځو څخه د باصلاحیته محکمو او دولتي ادارو په مرسته ساتنه کول؛
- د خاصو قوانینو د تصویبولو او د تحریمونو په شمول د نورو تدابیرو د نیولو په مرسته د ښځو پر ضد د ټولو تبعیضونو منع کول؛
- د عامه ادارو او دولتي ارګانونو له خوا د ښځو پر ضد د تبعیضي اعمالو مخنیوئ؛
- د افرادو، سازمانونو او موسسو له خوا د ښځو پر ضد د تبعیض له منځه وړل؛
- د هغو جاري قوانینو، مقرراتو، دودونو او رواجونو له منځه وړل او یا هغوی ته تغیر ورکول په کومو کې چې د ښځو پر ضد تبعیض موجود وي؛
- دټولو هغو جزائي پریکړو لغوه کول په کومو کی چې د ښځوپر ضد تبعیض شوئ وي.

دریمه ماده په سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري ساحو کې تبعیض ته وقف ده.
څلورمه ماده دا پیشنهاد کوي چې ګډون کونکي هیوادونه دې "خاص مؤقتي تدابیر" ونیسي کوم به چې د ښځو او نارینو ترمنځ مساوات ته د رسیدو پروسه ګړندۍ کړي. دا تدابیر به یوازې تر هغو پورې جاري وي ترڅو د ښځولپاره د مساوي امکاناتو د برابرولو اهداف ترسره شي.

پنځمه ماده له ګډون کونکو هیوادو څخه غواړي چې په ټولنیزو او کلتوري برخو کې بدلون راولي تر څو دا مفکوره چې یو جنس پر بل جنس برتري لري له منځه لاړه شي.
شپږمه ماده له دولتونو څخه تقاضا کوي چې د ښځو د قاچاق او جنسي او فحشأ استثمار د مخنیوي لپاره لازم اقدامات وکړي.

د تړون نورو مادو هغه ساحې په ګوته کړي په کومو کې چې دولتونه باید د تبعیض د له منځه وړلو لپاره کار وکړي، هغه دادي:

- سیاسي او ټولنیز ژوند – اوومه ماده
- بین المللي مؤسسې – اتمه ماده
- تابعیت – نهمه ماده
- ښوونه او روزنه – لسمه ماده
- کار – یوولسمه ماده
- عامه روغتیا – دوولسمه ماده
- کورنۍ مدد معاش – دیارلسمه ماده (الف)
- مالی کریدت – دیارلسمه ماده (ب)
- کلتوري ژوند – دیارلسمه ماده (ج)
- په کلیو کې د ښځو حقوق – څوارلسمه ماده
- قانون – پنځلسمه ماده
- واده او کورنۍ اړیکي – شپاړسمه ماده

دا تړون د ښځو حقوقو ته له ډیرو لارو نه وده ورکوي. تړون هغه ساحې په کومو کې چې د ښځو پر ضد تبعیض ډیر جوت دی او تر ټولو زیات مرستې ته اړه لري په ګوته کړي دي. دا تړون د هیواد په ټولو پریکړه نیونکو ارګانونو کې د ښځو د مساوي برخې اخیستنې له حق نه دفاع کوي او همدا راز په کورنۍ کې دننه د ښځو پر مساوي حقوقو ټینګار لري.

په دی ډول تړون هڅه کوي چې په نړیوالو حقوقو کې د شخصي او ټولنیزو برخو تر منځ انشعاب له منځه یوسي.

د بشر د حقوقو کمیټې (د ICCPR د تړون څارونکی کمیټه) په ۲۸ مه عمومی تبصره کې د ښځو د بشري حقوقو په باب د پاسني تړون تفسیر کړی دی.

د تړون د عملي کولو د میتودونوله جملی څخه د ښځو پر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلو کمیټې ته رپوټ ورکول( ۲۱ مه ماده) او د تړون د خپلخوښی پروتوکول مطابق د انفرادي شکایتونو سپارل دي.

## ۳. د ۱۹۹۹ کال د ښځو پر ضد د ټولوتبعیضونو د له منځه وړلود تړون خپلخوښی پروتوکول

د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر په شپږمه نیټه د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د ښځو پر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلو د تړون په اړوند په یوویشتو مادو کې د خپلخوښې پروتوکول تدوین کړ. ددې پروتوکول په راتیفیکیشن سره یو دولت د ښځو پر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلود کمیټې دا صلاحیت پرځان مني چې د هغه هیواد په قلمرو کې د ښځو انفرادي او ډله ایز شکایتونه راټول او څیړنه یې وکړي. افغانستان تراوسه پورې دا پروتوکول ندی لاسلیک کړی.

دا پروتوکول دوه طرزالعملونه لري

(۱) د مکاتبي طرزالعمل چي انفرادي ښځو او يا د ښځو ډلو ته اجازه ورکوي تر څو په تړون کي پر خپلو خوندي شوو حقوقو باندې د تيري په باب کميتي ته شکايت وکړي.

پروتوکول د کميتي له خوا د شکايتونو د منلو او څيړلو شرائط ټاکلي دي او له هغه څخه يو شرط دادئ چي لمړئ بايد د هيواد د ټولو کورنيو امکاناتو څخه استفاده شوې وي.

(۲) پروتوکول د پلټني طرزالعمل هم جوړ کړی دی چي د هغه له مخي کميته کولئ شي د ښځو پر حقوقو د سيستماتيک او سختو تيريو په حالاتو کي پلټني پيل کړي.

په دواړو حالاتو کي دولتونو بايد تړون او د هغه پروتوکول لاسليک کړئ وي. پروتوکول يوه فقره لري چي دولتونو ته د تړون د منلو او لاسليک کولو په وخت کي دا اجازه ورکوي چي د پلټنو د طرزالعمل نه منل اعلان کړي. د پروتوکول ۱۷ می مادې دا په ډاګه کړي ده چي د هغي په شرايطو کي د هيڅ ډول ريزرفيشن اجازه نشته.

د خپلخوښي پروتوکول د ۲۰۰۰ کال د دسمبر په ۲۲ مه نيته نافذ شو او تر اوسه پورې يې دريْ پريکړې(ملاحظات) تدوين کړي دي. همدا راز کميتي د پروتوکول د اتمي مادې سره سم د ۲۰۰٤ کال په جولای کي د مکسيکو په باره کي خپله لومړی پلټنه بشپړه کړه.

## ب) دماشوم د حقوقو نړيوال قانون

### ۱. سريزه

بشري حقوق په هر سن کي نافذ دي او ماشومان د لويانو سره مساوي بشري حقوق لري. ماشومان په خاص ډول آسيب پذيره دي نو ځکه هم پر نړيوالو بشري حقوقو سربيره د دوی د خوندي ساتلوپاره د نورو خاصو حقوقو ضرورت هم په رسميت پيژندل شوئ.[۲۳]

د بشري حقوقو په نړيوال قانون کي د ماشومانو د حقوقو په رسميت پيژندل يوه تاريخي پيښه ده. نړيوالي ټولني د ماشوم د حقوقو په باب داسي معيارونه تدوين کړي دي کوم چي د بيلا بيلو هيوادونو د عنعنو انعکاس کونکي دي. په دې عمل سره نړيوالي ټولني د ماشومانو په وړاندې خپل مسئوليت څرګند کړئ او په بين المللي او ديپلوماتيکو ډګرونو کي يي هغوی ته پاملرنه زياته کړيده.

لاندې بين المللي حقوقي اسناد په خاص ډول د ماشوم د حقوقو په باره کي دي:

- د ۱۹۸۹ کال د ماشوم د حقوقو تړون (CRC)

[۲۳] دا مأخذوګوری: Van Bueren, G., *The International Law on the Rights of the Child* (The Hague: Kluwer Law International, ۱۹۹۸)

- د (CRC) خپلخوښې پروتوکول
- په وسله والو کړکیچونو کې د ماشومانو د شمولیت د (CRC) خپلخوښې پروتوکول (۲۰۰۰کال)
- د ماشومانو د خرڅلاو، د ماشومانو دفحشأ او دماشوم د پورنوګرافي په باب د (CRC) خپلخوښې پروتوکول(۲۰۰۰کال)

## ۲. د ۱۹۸۹ کال د ماشوم د حقوقو تړون

په ۱۹۸۹ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي د ماشوم د حقوقو تړون تدوین کړ. دا تړون د۱۹۲ هیوادو( دبشري حقوقو له ټولو تړونونو نه زیات) له خوا لاسلیک شوئ او د بشري حقوقو په ساحه کې تر ټولو ښه درک شوئ واحد سند دئ. افغانستان د ۱۹۹٤ کال د اپریل په میاشت کې د (CRC) تړون لاسلیک کړ او سمدلاسه یې دا اعلامیه صادره کړه:

اعـــلامـــیه

"د افغانستان د جمهوریت دولت د تړون په لاسلیک کولو سره د تړون د ټولو هغو موادو په هکله چې داسلامي شریعیت له اصولو او جاري قوانینو سره تطابق ونه لري خپل ریزرفیشن اعلانوي""[٢٤]

ا په دې تړون کې د بشري حقوقو ټولې برخې شاملې دي لکه مدني،سیاسي،اقتصادي،کلتوري او ټولنیز حقوق چې د څلور (پي) په اصولو سره توضیح شوي دي:

- د خپل برخلیک په باب د پریکړې په وخت کې د ماشوم **اشتراک** (participation)
- د تبعیض او هرډول بیتوجهی او استثمارڅخه د ماشومانو **ژغورنه** (protection)
- ماشومانو ته د ضرر رسیدلو **مخنیوئ** (prevention)
- د ماشومانو داساسي ضروریاتو لپاره د مرستې **برابرول** (provision).

د ماشوم د حقوقو په اړوند د بین المللي معیارونو د تطبیقولو په وخت کې پاس څلور اصول په مساوي ډول ضروري دي.

په لومړئ ماده کې راغلي دي چې د ا تړون په ټولو هغو کسانو پورې چې اتلس کلنئ ته نه وې رسیدلي اړه لري ، مګر دا چې د قانون له مخې د بلوغ سن له دې نه کم تعین شوئ وي". دې مادې پر دولتونو باندې دا بار ایښئ دې چې د بلوغ د سن راټیټول مستدل کړي.

په دوهمه ماده کې د ګډون کونکو هیوادونو له خوا د ماشوم په تړون کې د ذکر شوو حقوقو دره ناوئ او بې تبعیضه تأمینول راغلي دي. برسیره پر دې له هیوادونو څخه غوښتل شوي چې له هر ډول تبعیض او مجازاتو څخه د ماشوم د ژغورلو لپاره اقدامات ونیول شي.

---

[٢٤] http://www.ohchr.org/english/countries/ratifications/١١.htm

دریمه ماده د ټول ترون بنسټ جوړوي او په هغې کې راغلي چې د ماشومانو په اړوند د هر ډول پریکړې د نیولو په وخت کې باید د هغوی ګټې او حقوق د "لومړنیو ملاحظاتو" په توګه په نظر کې ونیول شي.

څلورمه ماده په ترون کې د راغلو حقوقو د تأمینولو لپاره دولتونو ته تجویزات لري. دا ماده په څرګنده توګه د ماشومانو د اقتصادي،ټولنیزو او کلتوري حقوقو د تأمینولو لاروچارو ته اشاره کوي او دا زیاتوي چې په دې ترڅ کې باید موجود امکانات په اعظمي توګه په کار واچول شي او د ضرورت په صورت کې پر بین المللي همکاریو ډېره ولګول شي.

پنځمه ماده د دولتونو توجه د پراخې کورنۍ او ټولنې امکاناتو ته او دوالد ینو مسئولیتونو ، حقوقو او وجائبو ته راګرزوي تر څو د پوره حقوقو د تأمین لپاره ماشومانو ته د هغوی د ودې او ظرفیتونو سره سم لارښوونه او رهنمایي وشي.

د ترون لاسلیک کول په ګډون کونکي هیواد دا مسئولیت ږدي چې خپل قوانین د ترون د موادو سره همآهنګه کړي. ترون د نورو ملحوظاتو تر څنګ په دې ټینګار کړی دی چې هر ماشوم د ژوند حق لري او دولتونه باید اعظمی هڅه وکړي چې د ماشومانو ژوند او وده تأمین شي. برسیره پر دې دولتونه باید دا حکم تأمین کړي چې هر ماشوم بې له هر ډول تبعیض او استثنا څخه له خپلوحقوقو څخه ګټه واخلي او کوچنیان دې د خپلو والدینو څخه نه بیلیږي، مګر دا چې با صلاحیته مقامات د هغوی د سوکالۍ په نامه دا پریکړه وکړي. په محکمو، روزنتونونو او یا دولتي ادارو کې د ماشومانو په هکله د پریکړې په وخت کې باید د ماشومانو ګټې د لومړنیو ملاحظاتو په توګه وګڼل شي.

د ترون د موادو له مخې معیوب ماشومان د مخصوصو زده کړو، چلند او مواظبت حق لري. ابتدائي تعلیمات باید وړیا او اجباري وي او د ښونځیو په درسي نصاب کې باید د ماشوم وقار ته دره ناوې وشي. هغه جرمونه چې د اتلس کلنۍ نه مخکې شوي وي باید د اعدام او عمري بند په جزا محکوم نشي. هغه ماشومان چې عمر یې له پنځلس نه کم وي باید په جګړو کې برخه وانخلي او د هغو ماشومانو چې په وسله والو کړکیچونو کې ښکیل وی خاص محافظت وشي. د اقلیتونو او بومي قبائلو ماشومان باید په آزاده توګه خپل کلتور، دین او ژبه مراعات کړي.

د دولتونو له خوا د ترون د عملي کیدو څارنه د ٤٤ می مادې سره سم د ماشوم د حقوقو کمیټې ته د رپوټونو د سپارلو له لارې ده. دا کمیته په خپلو منظمو غونډو کې ددولتونو له خوا د ترون د عملي کیدو څارنه کوي. کمیته کولئ شي حکومتونو او د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې ته د ترون اهدافو ته درسیدو لپاره پیشنهادات او نظریې وړاندې کړي.

د ۲۰۰۰ کال د مې په میاشت کی د ملګرو ملتونو عمومی اسامبلې د ماشوم د ترون په اړوند په وسله والو کړکیچونو کې د ماشومانو د ګډون او د ماشومانو د خرڅلاو، د ماشومانو د فحشا او د ماشومانو د پورنوګرافی دوه خپلخوښی پروتوکولونه تدوین کړل. دخپلخوښې دې پروتوکولونو په ۲۰۰۲ کال کې قانونیت پیدا کړ او افغانستان دواړه د ۲۰۰۳ کال په سپتمبر کې لاسلیک کړل.[۲۵]

[۲۵] د سي.آر.سي د خپلخوښی پروتوکول پوره متن دلته وګوری:
http://www.ohchr.org/english/law/crc-conflict.htm;

## ج) دښځو او ماشومانو په اړوند د بشري حقوقو مسائل

### ۱. دښځو پر ضد تشدد( تیرئ)

د ښځو پر ضد د تولوتبعیضونو د له منځه وړلو تړون په خپله شپږمه ماده کې د ښځو پر ضد د تیري یو خاص مورد په ګوته کړئ چي هغه د ښځو قاچاق او د فحشا له لارې د ښځو استثمارډي. ددې تړون تر لاسلیک کولو وروسته د دولتونو او انجیوګانو په هغه رپوټونو کې چې د تړون د ۱۸ مې مادې له مخې يې وړاندې کړي دا راڅرګنده شوه چې د ښځو پر ضد تشدد او تیرئ د تبعیض د له منځه وړلو په لاره کې اساسي خنډ دئ. ددې حالت په نظر کې نیولو سره د ښځو کمیټې د تړون د ۲۱ مې مادې سره سم عمومي تجویزات (۱۲، ۱٤، ۱۹) تدوین کړل او په هغو کې دا په ډاګه شوې ده چې د ښځو پر ضد تشدد او تیرئ د تړون د لومړی مادې له مخې[۲٦] د ښځو پر ضد د جنسي تبعیض په مفهوم کې شامل دی.

د ۱۹ عمومي تجویز په لومړي پاراګراف کې راغلي دي چې د جنسي توپیر پر اساس تشدد داسې یو تبعیض دئ چې د ښځو له خوا د نارینو سره د مساوي حقوقو او آزادیو د درلودلو جدي مخنیوئ کوي. د جنسي توپیر پر بنسټ تشدد یا تیرئ داسې تعریف شوی دی " هغه تشدد چې د ښځې پرضدوي ځکه چې هغه ښځه ده اویا په غیرمتعادل ډول پرښځوتاثیروکړي"[۲۷]

اووم پاراګراف حقوق او آزادئ توضیح کوي چې هغه دادي: د ژوند حق؛ د تعذیب، غیرانساني چلند یا مجازاتو څخه د خوندیتوب حق؛د بین المللي او یا کورنیو وسله والو کړکیچونو په وخت کې د انساني نورمونو سره سم د مساوي ژغورني حق؛ د فردي آزادئ او مصئونیت حق؛ تر قانون لاندې د محافظت مساوي حق؛ په کورنئ کې د مساوات حق؛ دسالمې  بدني او روحي روغتیا حق؛د کار د مساعدو او عادلانه شرائطو حق.

اتم او نهم پاراګرافونه د عامه ادارو له خوا د ښځو پر ضد د تشدد په وړاندې ددولت مسئولیت او همدا راز د انفرادي تشدد نه  د مخنیوي نه کولو په وړاندې مسئولیت تعین کړئ دئ.

په ۱۹۹۳ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د ښځو پر ضد د تشدد دله منځه وړلو اعلامیه تدوین کړه. دې اعلامیې د ښځو پر ضد تشدد تعریف کړی او ددی ډول اعمالو د مخنیوي لپاره یې د دولتونو وجایب ټاکلي دي.

د اطریش دویانا د ۱۹۹۳ کال د بشر د حقوقو په نړیوال کنفرانس کې د ښځو پر حقوقو یو ځل بیا د بشر دحقوقو په شان ټینګار وشو.  د ویانا په کنفرانس کې پریکړه وشوه چې د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو کمیسیون دې د ښځو پر ضد دتشدد په باب یو خاص رپوټچي وټاکي. دا رپوټچي د ښځو

---

۲٦ دا مأخذوګورئ: Connors, J., 'United Nations approaches to 'crimes of honour'' in Eds. Welchman, L. and Hossain, S., *'Honour' Crimes, Paradigms and Violence* (London: Zed Books Limited, ۲۰۰۵). http://www.ohchr.org/english/law/crc-sale.htm

۲۷ دا مأخذ وګورئ: http://www.un.or/woemenwatch/dw/cedaw/recommendations/recomm.htm#recom۱۹

پر ضد د تشدد ملحوظات د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو کمیسیون ته وړاندې کوي او د دغو تیریو د له منځه وړلو لارې چارې پیشنهادوي.[۲۸]

د۱۹۹۵ کال د پیکنګ په څلورم نړیوال کنفرانس کې بین المللي ټولنې د عمل پلاتفورم تدوین کړ [۲۹] په کوم کې چې د ښځو پر ضد د تشدد دله منځه وړلو لپاره د دولتونو په وړاندې درې ستراتیژیکې اهداف ټاکل شوي دي:

- د ښځو پر ضد د تشدد دله منځه وړلو او مخنیوي په هکله همآهنګه تدابیر؛
- د ښځو پر ضد د تشدد د علتونو او نتیجو او همدا راز د مخنیوي کونکو تدابیرو د مؤثریت څیړنه؛ او
- د ښځو د قاچاق له منځه وړل او په فحشا پوري د اړونده تشدد د قربانیانو سره مرسته.

دې اهدافو ته د رسیدو لپاره دولتونو ته مشوره کیږي چې:

- د ښځو پر ضد تشدد محکوم کړي؛
- د تشدد په مخنیوي، پلټنې او د مرتکبینو په مجازاتو کې(که شخصي وي یا دولتي) له اشد جدیت نه کار واخیستل شي؛
- جاري بین المللي معیارونه تطبیق او له بین المللي میکانیزمونو څخه ملاتړ وکړي؛
- قانوني تدابیر تدوین او هغوی په مؤثره توګه تطبیق کړي؛
- د ښځو پر ضد د تیریو په هکله د خبرداری ورکولو اقدامات معرفي او قوي کړي؛
- له هغو کسانو سره چې د تشدد قربانیان دي مرسته او همکاري وکړي.

## <u>۲. اجباری او د کوچنیانو ودونه</u>

په ۲۰۰۳ کال کې د ښځو پر ضد د تشدد خاص رپوټچي هغو ایدیالوژیو ته ګوته ونیوله کومې چې د ښځو پر ضد د تیري د کلتوري دودونو پر بنسټ ولاړې دي او زیاته یې کړه چې " د ماشومانو ودونه ، اجباري ودونه او پر ماندینو جنسي تیري د ښځو د جنسي توپیر څخه د ناوړه استفادو مستقیم اشکال دي. دا ډول اعمال د ښځو او نجونو څخه د خپل ژوند په باب د پریکړې حق صلبوي چې په نتیجه کې د هغوی څخه یو زیات شمیر د جنسي تیریو قربانیانې شي او ژوند او امیدونه یې ویجاړ شي.".[۳۰]

د اجباري او د کوچنیانو د ودونو په اړونده د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلو کمیټې په "واده او کورنیو اړیکو کې د مساوات" په هکله ۲۱م عمومي پیشنهاد صادر کړ. کمیټې دا په ګوته کړه چې د میره د انتخاب او واده کولو حق د ښځې د ژوند او انساني کرامت اساسي رکن دئ. دواړو د CEDAW او CRC کمیتو د "وقارجرمونو" په باب چې د اجباري او د کوچنیانو

۲۸ پوره متن دلته وګورئ: http://www.unhchr.ch/html/menu٥/wchr.htm

۲۹ پوره متن دلته وګورئ: http://www.un.org/womenwatch/daw/beijing/platform/declar.htm

۳۰ د ښځوپرضدد تشدد،دهغه دعلتونواونتائجوپه باب دخاص رپوټچي د۲۰۰۳کال درپوټ۱۰۳ پاراګراف E/CN.٤/۲۰۰۳/۷٥

ودونه پکې شامل دي خپل نظرونه څرګند کړل. د بشر د حقوقو د کمیټې ۲۸مه عمومي تبصره په دی ټینګار کوی چی " ښځې دا حق لري چې یوازي په خپله آزاده او کامله خوښه ودونه وکړي".

د بشر د حقوقو په نړیوال قانون کې د ښځو او نارینو د واده کولو او کورنی د جوړولو حقوق د بشر د حقوقو د عمومي اعلامیې په (۱)۱٦ ماده، د ICESCR (۱)۱۰ ماده او د ICCPR د درویښتمې مادې په دوهمه او دریمه فقرو کې راغلي دي. په دې مادو کې ټینګار شوی دی چې یوه ښځه او یو نارینه هغه وخت واده کولی او کورنی جوړولی شي چې د بلوغ سن ته رسیدلي وي او په خپله کامله خوښه او رضا یې دا پریکړه کړی وي. سی.یی.ډ.ا.ډبلیو د ګډون کونکو هیوادو لپاره په کورنیو اړیکو او واده پورې اړونده د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلو تدابیر په ګوته کړي دي. دولتونه باید دا تأمین کړي چې ښځې له نارینو سره د مساوات پر بنسټ (شپاړسمه ماده(۱)):

الف) دواده کولو مساوي حق لري؛
ب) د میره د انتخاب او په خپله کامله خوښه او رضا سره د واده حق لري؛
ج) د واده کولو او طلاق په وخت کې مساوي حقوق او مسئولیتونه لري؛
د) د ښځې او میره په څیر مساوي شخصي حقوق لري.

سی.یی.ډ.ا.ډبلیو د شپاړسمې مادې په دوهمه فقره کې زیاتوي چې د یوه ماشوم واده باید قانوني ونه ګڼل شي او ضروري ګامونه دې واخیستل شي تر څو د واده کولو قانوني سن وټاکل شي او په یوه رسمي اداره کې د ودونو ثبتول اجباري وګڼل شي. د۱۹٦٤ کال د واده په باره کې د رضایت، د واده کولو د سن او د ودونو د ثبتولو د تړون[۳۱] په لومړی ماده کې پدې ټینګار شوی چې د واده کولو په باب آزاده او پوره رضا باید د قانون له موادو سره سم د ذیصلاحو ادارو او شاهدانو په وړاندې څرګنده شي. افغانستان د۱۹٦٤ کال د واده په باره کې د رضایت، د واده کولو د سن او د ودونو د ثبتولو تړون لا تر اوسه نه دی لاسلیک کړی.

د سی.یی.ډ.ا.ډبلیو دوهمې او پنځمې مادو پر دولتونو دنده ایښی تر څو د ښځو پر ضد تبعیضي دودونو ته تغیر ورکړي. د سی.آر.سی (۳)۲٤ ماده پر دولتونو غږ کوی تر څو هغه خرافاتي دودونه چې د ماشومانو روغتیا ته ضرر رسوي منع کړي.

په۱۹ـ م عمومي تجویزکې.[۳۲] اجباري واده د جنسي تبعیض په څیرپیژندل شوی دی. ۲۱م.عمومي تجویز په خاص ډول په واده او کورنیو اړیکو کې د مساوات په هکله دې او پر دې ټینګار کوي چې د میره په انتخاب کې د ښځې آزادي او واده کولو حق د هغې د انساني کرامت او بشري مساوات بنسټ دئ.[۳۳]

---

۳۱ پوره متن دلته وګوری: http://www.unhchr.ch/html/menu۳/b/٦۳.htm

۳۲ پوره متن دلته وګوری: http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/recommendations/recomm.htm#recom۱۹

۳۳ پوره متن دلته وګوری: http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/recommendations/recomm.htm#recom۲۱

د ۲۰۰۳ کال د ښځو پر ضد د تشدد د له منځه وړلوپریکړه لیک[٣٤] په کورنۍ کې د ښځو پر ضد تشدد تعریفوي او په اووم پاراګراف کې د لاندې تیریو سخته غندنه کوي:
"فزیکي، جنسي او رواني تشدد چې په کورنۍ کې رامنځته ګیږي د هغو له ډلې څخه وهل ټکول، په کورنۍ کې د ښځو او نجونو څخه ناوړه استفاده، په ولور پوري اړونده شخړې،د واده جنسي تیرئ ، د نوو زیږیدلو لورګانو وژل، د نجونو د جنسي غړو پریکول، د ښځو پر ضد د حرمت او عزت په نامه جرمونه، د میني او احساس په نامه جرمونه، محلي دودونه چې ښځو ته ضرر رسوي، پر ماندیني جنسی تیرئ، تر قانوني سن نه مخکی او اجباري ودونه، د زنا تشدد او هغه تیرئ چې د ښځوڅخه د جنسي استثمار او اقتصادي استثمار په خاطر وي"

دې پریکړه لیک په خپله ۱٤ ماده کې له دولتونو څخه د عمل غوښتنه کړی او ټینګار کوي: " دولتونه وظیفه لري چې د ښځو او نجونو له بشري حقوقو څخه ساتنه وکړي او باید داسي تدابیر ونیسي تر څو د ښځو او نجونو پر ضد د هر ډول تشدد مخنیوئ، پلټنه او مجازات وشي.....دولتونه باید د ښځو پر ضد تشدد وغندي او اجازه ورنکړي چې دودونه، عنعني او د مذهب او کلتور په نامه فعالیتونه د ددې ډول تیریو د له منځه وړلو د لاری خنډ شي."

---

[٣٤] پوره متن دلته وګورئ:
http://www.unhchr.ch/Huridoca/Huridoca.nsf/(Symbol)/E.CN.٤.RES.٢٠٠٣,٤٥.En?Opendocument

# څلورم فصل:دقانون د حاکمیت مسئلی

## الف) دځواکونوبیلتون اودقضا خپلواکتوب

### ۱. ســـریزه

په معاصر مشروطه دولت کې د خپلواک قضائي سیستم موجودیت د ځواکونو د ویش له نظرېي څخه سرچینه اخلي چيري چې اجرائیه،مقننه او قضائیه قواوی ددولت درې خپلواکي او جلا څانګي دي او په خاصه توګه له قدرت څخه د ناوړه استفادې د مخنیوي لپاره د کنترول او توازن یو سیستم جوړوي. دا خپلواکي په دې معنی ده چې هم عدلي سیستم او هم انفرادي قاضیان چې په مشخصو مواردو کې پریکړې کوي وکولۍ شي د اجرائیه او مقننه ځواکونو او نورو منابعو له اغیزې او تأثیرڅخه پرته خپل حرفوي مسئولیتونه ترسره کړي.[۳۵]

یوازې خپلواک قضائي سیستم کولې شي چې د قانون پر اساس په بیغرضه توګه عدالت تأمین او د افرادو د بشري حقوقو او اساسي آزادیوساتنه وکړي. دا اساسي دنده په مؤثره توګه هغه مهال ترسره کیدای شي کله چې خلک پردی پوره اعتماد ولري چې قضائي سیستم په بیغرضه توګه عمل کوی. هر کله چې دا اعتماد زیانمن شي په نتیجه کې یی قضائي سیستم او انفرادي قاضیان ددی دندی د ترسره کولو توان له لاسه ورکوي او یا هم د هغي عملي کول ورته ډیر ګران شي.

دقاضیانو د خپلواکتوب اصل د قدرت نه د ناوړه استفادې په وړاندې د خلکو ددفاع لپاره جوړ شوی دئ. دا اصل په دې ټینګار کوي چې قاضیان د قضیو د حل په وخت کې د خپلي خوښي او غوښتنی له مخی فیصله نشی کولۍ، د هغوی دنده داده چې قانون عملي کړي.　له افرادو څخه ددفاع په ساحه کې دا اصل په دی معنی هم دئ چې قاضیان مسئولیت لري په لازم مهال کورني او یا د بشر دحوقو نړیوال قوانین عملي کړي.
د قانون د حکم پر بنسټ یو ولاړ عدلي سیستم خپلواکو او بیغرضه څارنوالانو ته هم ضرورت لري چې حاضر وي د هغو جرایمو پلټنه وکړي کوم چې د انسانانوپرضد شوي وي حتی که مجرم د رسمي موقف څخه دا جرم کړې وي. که چیری قاضیان او څارنوالان په ټولنه کې د نظم او عدالت په ساتلو کې خپل مهم رول ونه لوبوي نو ددی جدي خطر شته چې ټولنه د جزا نه لیدنی په ناروغی اخته شي او په نتیجه کی یي د عامه خلکو او دولتي مقاماتو تر منځ واټن زیات شي. که چیری خلک د ځان لپاره د عدالت په تأمینولو کی له ستونزو سره مخامخ شي، هغوی بنایي دی ته وهڅیږي چه قانون په خپل لاس کې واخلي او په نتیجه کې به ئي د عدلي سیستم اداره لا هم ویجاړه شي او کیدای شي نوي کړکیچونه رامنځ ته کړي.

---

[۳۵] دا مأخذ وګوری: Office of the High Commissioner for Human Rights and International Bar Association, Professional Training Series No. ۹. Human Rights in the Administration of Justice: A Manual on Human Rights for Judges, Prosecutors and Lawyers (New York and Geneva: United Nations, ۲۰۰۳).

یو قانوني سیستم بې له هغو خپلواکوحقوقپوهانوڅخه مکمل نه دئ کوم چی په آزاده توگه او د غچ اخیستنی له ویرې څخه پرته خپلې دندې ترسره کړي. مستقل حقوقي وکیلان په ټولو حالاتوکې د بشرد حقوقواواساسي آزادیوپه ساتنه کې مهم رول لوبوی. په گډه سره حقوقپوهان، خپلواکه او بیغرضه قاضیان او څارنوالان ددی زمینه مساعدوي چې د قانون حاکمیت بریالئ او دافرادو حقوق په خوندي توگه وساتل شي.

## ۲ دحقوقپوهانو د رول په باب د ملگرو ملتونو اساسي اصول

د ۱۹۹۰ کال د حقوقپوهانو د رول په باب د ملگرو ملتونو د اساسي اصولو په سریزه کې راغلي چې د بشري حقوقو لازمه ساتنه دې ته اړتیا لري چې ټول کسان د یوې خپلواکې حقوقي حرفې له خوا حقوقي خدماتو ته لاس رسیدنه ولري. د حقوقپوهانو ټولنې د مسلکي او احلاقي نورمونو په اوچت ساتلو او له تعقیبونو او محدودیتونوڅخه د خپلو غړو د ژغورلو په لاره کی مهم رول لوبوي. که څه هم د حقوقپوهانو ټولنه له دولت سره د عدالت په تأمینولو کی همکاري کوي اما د حقوقپوهانو مسلک باید خپلواکه وي او د حرفوي او اخلاقي نورمونو په اوچت ساتلو کې اغیزمن رول ولوبوي.[۳۶]

(i) روزنه او تخصص

د ملگرو ملتونو د اساسي اصولو په نهم اصل کی راغلي چې حکومتونه، د حقوقپوهانو مسلکي ټولنې او تعلیمي مؤسسات باید حقوقپوهانو ته د لازمه زده کړو اوروزنې شرائط برابر کړي.

لسم اصل دا روښانه کړیده چې پاسنئ اصل باید بې له هرډول تبعیضه ترسره شي (لکه د نژاد،جنس،مذهب،سیاسي عقیدو،زیږدنی او یا اقتصادي حالت پر اساس تبعیض)

له دی کبله د حقوقپوهانو مسلکي ټولنې باید په دې برخه کې چې ددې ډول روزنو پایلی څه ده او له هغونه د فراغت په سند کی څه لیکل کیږي رول ولري. دې موخې ته د رسیدو لپاره باید هر دولت د خپلو ضروریاتو او دهیواد د حالت په نظر کې نیولو سره دا پریکړه وکړي چې د حقوقپوهانو د ټولنې، حکومت او تعلیمي مؤسسو تر منځ څواک او مسؤلیتونه څنگه وویشي..

(ii) دندې او مسؤلیتونه

په دوولسم اصل کې راغلي چې حقوقپوهان باید په ټولو حالاتو کې د خپل مسلک عزت او کرامت وساتي او له خپلو مؤکلینو سره د منل شوو مسلکې نورمونو او اخلاقو سره سم مرسته وکړي. حقوقپوهان باید تر ټولو نه زیات په دی پوه وي چې دا مسلکي اخلاقي نورمونه کوم دي. نو څکه هم د حقوقپوهانو ټولنې ددې نورمونو د اعلانولو او جاري کولو تر ټولو مساعد سازمان دئ.

(iii) د حقوقپوهانو د فعالیت لپاره تضمینونه

---

[۳۶] دا مأخذ وگوری: UN Doc. A/CONF.۱۴۴/۲۸/Rev.۱

د شپاړسم اصل له مخې حکومتونه دا تضمینوي چې حقوقپوهان بې له هرډول ډارونې او ځورونې څخه وکولې شي خپلې دندې ترسره کړي اودهغه سم عمل په خاطر چې د خپلو پیژندل شوو مسلکې وظایفو او اخلاقي نورمونو له مخې ئې تر سره کوي تهدید او توبیخ نه شي.

اتلسمه ماده په خاص ډول څرګندوي چې" حقوقپوهان د خپلو دندو د ترسره کولو له کبله باید د هغو د مؤکلینو او یا د مؤکلینو په موضوعاتو پورې اړوند ونه بلل شي"

(iv) دټولنو د جوړولو آزادي

په ۲۳م اصل کې راغلي دي چې حقوقپوهان د بیان او د ټولنو د جوړولو آزادي لري. دا پر عدلي سیستم باندې په ځانګړی توګه او یا هم د حقوقپوهانو د ټولنو د جوړولو له لارې د جوړونکي انتقاد حق دې.

۲٤م اصل په روښانه توګه دا څرګندوي چې حقوقپوهان حق لري خپلواکې مسلکي ټولنې جوړې کړي او یا په هغو کې غړیتوب پیدا کړي تر څو د دوی د ګټو استازي توب وکړي، پرله پسې زده کړه او روزنه پر مخ بوزي او د هغوی د مسلکي بشپړتیا ساتنه وکړي. د مسلکي ټولنې اجرائیه هئیت باید د هغې د غړو له خوا انتخاب شي او له بهرنۍ لاسوهنې پرته خپلې دندی پرمخ بوزي.

دا پدی معنی ده چې د حقوقپوهانو یوه ټولنه دی خپلواکه وي او باید د خپلو غړو له خوا اداره شي. دا ټولنه باید د مسلکي نورمونو په جوړولو کې برخه واخلي او د حقوقپوهانو د ګټو ساتنه وکړي

۲۵ اصل دا بیانوي چې د حقوقپوهانو ټولنه باید له حکومت سره همکاري وکړي تر څو هر څوک وکولئ شي له حقوقي خدماتو څخه مساوي او اغیزمنه ګټه واخلي او حقوقي وکیلان وکولئ شې له خپلو مؤکلینو سره مرسته وکړي. له دې امله د حقوقپوهانو ټولنه او حکومت په دې هڅو کې بو دبل همکاران دي.

(v) انضباطي اقدامات

۲٦ اصل دا بیانوي چې د حقوقپوهانو د مسلکي چلند مقررات باید د هغوی د ټولنې له خوا او یا د مقننه څواک له خوا جوړ شي. د حقوقپوهانو په مورد کې شکایتونو ته باید په په بیړه او منصفانه توګه پاملرنه وشی (۲۷م اصل) او د هغوې په هکله انضباطي اجراأت باید د یوې بیطرفه انضباطي کمیتې له خوا چې د حقوقپوهانو ټولنې جوړه کړی وی، یا د یوې محکمې او یا د یوې خپلواکی قانوني اداری په وړاندی وڅیړل شي .( ۲۸م اصل) دا اقدامات باید د مسلکي چلند د مقرراتو سره سمون ولري (۲۹م اصل). له دي امله دا ډیره مهمه ده چې د مسلکي چلند مقررات تدوین شي.

**۳. د کامنویلت هیوادو(د لاتیمیر د مانۍ) اصول**

د نړۍ په دې سیمه کې د نړیوالو تړوننو د نشتوالي په نظر کې نیولو سره د کامنویلټ (د لاتیمیر دمانۍ) اصولو د پارلمان، قضائیه او اجرائیه څواکونو تر منځ مناسبات تعریف او توضیح کړي دي. ددې اصولو موخه په غړوهیوادو کې د دموکراسۍ ټینګول او د کامنویلټ د اساسي ارښتونو رعایت دئ. ددغه اصولو له مخې د حکومت ددریوڅانګو تر منځ د ځواک حدود داسې ټاکل شوي تر څو هغوی ته د قانون د حاکمیت د پلي کولو او په ښه توګه د حکومت د چلولو په لاره کې د متقابل عمل زمینې برابرې شي. دا اصول ددولتي ارګانونو تر منځ د اعتماد رامنځ ته کولو او دخلکو له خوا پر خپله رهبرې باندې د باور پیداکولو ته متوجه دي.[۳۷]

د کامنویلټ اصول په دموکراتیکو ټولنو کې د پارلمان، اجرائیه او قضائیه قواوو تر منځ د ځواک د توازن او دهغوی تر منځ د متقابل عمل د مسائلو سره سر او کار لري. دی اصولو په جزئیاتو سره د دولت د دریو څانګو د استازو تر منځ توافق توضیح کړئ دئ او دائې ښودلې چې دولتي ملي اداري یو له بل سره په اړیکو کې خپل مسئولیتونه څنګه سر ته ورسوي. دې اصولو دا مشخصه کړې ده چې یو ځواک په خپله قانوني ساحه کې باید له قدرت نه هغومره استفاده وکړي تر چو چې د نورو ځواکونو پر قانوني ساحه پښه کې نه ږدي.

د کامنویلټ اصول ددې هیوادو د قانون د وزیرانو له خوا تکمیل او د غړو هیوادو د مشرانو له خوا د هغوی د ۲۰۰۳ کال د نایجیریا د ابوجا د ښار په غونډه کې لاسلیک شول. دې اصولو د لاتیمیر د مانۍ د پارلماني حاکمیت او قضائي خپلواکۍ په باره کې د لاربښودونو څخه سرچینه اخیستې ده.

## ب) اخلاقی معیارونه – بهرنی تجربې

**۱. ســـریزه**

د نړۍ د حقوقپوهانو ټولنې د خپلو غړو هیوادو د حقوقپوهانو د ټولنو لپاره د حقوقي اخلاقو د نړیوالو نورمونو موډل جوړ کړئ دی.[۳۸] په څینو حقوقي سیستمونو کی دا نورمونه پر حقوقي وکیلانو باندې د هغوی د مسلکي ټولنو یا محکمو او یا د هغو ادارو له خوا تطبیقیږي کومی چې حقوپوهانو ته د کار اجازه نامه ورکوي. د حقوقپوهانو د نړیوالې ټولنې په نظر ددې غوښتنو زیاتره برخه یو داسې لاربښود جوړوي کوم چې باید د حقوقپوهانو له خوا د نړیوالو حقوقی مسئلو د څیړلو په مهال مراعات شي.

[۳۷] پوره متن دلته وګورئ:
http://www.thecommonwealth.org/shared_asp_files/uploadedfiles/{ACC۹۲۷۰A-E۹۲۹-٤AE۰-AEF۹-٤AAFEC٦٨٤٧۹C}_Latimer٪۲۰House٪۲۰Booklet٪۲۰۱۳۰۵۰٤.pdf

[۳۸] پوره متن دلته وګورئ http://www.ibanet.org/images/downloads/International_Ethics.pdf

## ۲. نړیوال اخلاقي نورمونه

ځیني مهم اصول ئې دادي:

- حقوقپوهان باید په هر مهال د خپل مسلک عزت او کرامت وساتي. هغوی باید په کار او شخصي ژوند کي له هر هغه ډول چلند نه ځان لیری وساتي کوم چې کولئ شي ددوی مسلک بدنامه کړي.

- حقوقپوهان باید د خپلو دندو د سرته رسولوپه مهال خپل خپلواکتوب وساتي.

- حقوقپوهان باید تل د محکمي دره ناوئ وکړي. حقوقي وکیلان بأید په آگاهانه ډول هیڅکله محکمې ته هغه ناسم معلومات او یا مشوره ورنه کړي کوم چې ددوې له نظره د قانون مخالف وي.

- دا ناسمه ده چې یو حقوقي وکیل په یوه خاص مورد کې د بل حقوقي وکیل له مؤکل سره بې دهغه له اجازې تماس ونیسي.

- د خپل مؤکل د گټو په خاطر یو حقوقي وکیل باید هڅه وکړي چې د دعوی له اقامې پرته له محکمې نه د باندې قضایا حل کړي.

- حقوقپوهان باید د دعوی د اقامې په وخت د متضادوگټو استازیتوب ونه کړي. دا کار د دعوی د اقامی پرته مسائلو کې هم مجاز نه دی مگر داچې حقوقي وکیل مخکی له مخکی ټول اختلافونه او د گټو تضادونه راسپړلي وي او د ذیدخلو خواوو موافقه ئې اخیستې وي. دا حکم د یوې حقوقي ادارې په ټولو کار کوونکو پورې صدق کوي.

- حقوقپوهان نشي کولئ چې د خپل وکالت په وخت کي او حتی تر هغه وروسته هغه معلومات افشا کړي کوم چې دوی له خپل مؤکل نه ترلاسه کړي وي، مگر داچې محکمه او یا قانون دا ورځنې وغواړي. دا امر د حقوقي وکیل د مرستیالانو او همکارانو په باب هم صدق کوي.

## ج) دافغانستان د حقوقي سکتور وده

### ۱. ســـريزه

د افغانستان د ٢٠٠٤ کال د اساسي قانون ١١٦ ماده د قضا د خپلواکتوب په باب داسي وائي:

(١) قضائيه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دي.
(٢) قضائيه قوه له يوې ستري محکمې، د استيناف له محکمو او ابتدائيه محکمو څخه جوړه ده چې تشکيلات او واکونه ئې د قانون له لياري تنظيمي‌ږي.
(٣) ستره محکمه د ستر قضائي اورګان په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوريت د قضائيه قوې په سر کې ده.

د ٢٠٠٥ کال د نومبر په دیارلسمه نيټه د حقوقپوهانو نړيوالي ټولني په کابل کې د افغانستان د حقوقپوهانو د ټولني د جوړولو لپاره يو کنفرانس جوړ کړ چې په هغه کې ١٤٠ تنو ګډون درلود. ګډون وکوونکي د افغاني حقوقپوهانو،د وکيلانو د ټولنو،دولتي حقوقپوهانو،قاضيانو،اکادميسينانو،د حقوقو د پوهنځي محصلانو، ملي او بين المللي انجيوګانو، د ملګرو ملتونو د اجنسيو او مرستة کونکو هيوادو استازي و. په دې کنفرانس کې تجربه کارو حقوقپوهانو، نړيوالو ماهرانو او د افغانستان د عدليې د وزارت معين خبرې وکړې. کنفرانس د "حقوقپوهانو د ټولنو لپاره دوولس اساسي اصول" تصويب کړل.[٣٩]

### ٢- د حقوقپوهانو د ټولنو لپاره دوولس اساسي اصول

دا ډيره مهمه ده چې په افغانستان کې د قانون پر کلک بنسټ د حقوقپوهانو يوه فعاله او خپلواکه ټولنه جوړه شي. قانون به دا تضمين کړي چې ددې ټولني اهداف واضح او د هغې اداره روښانه ده. قانون به دا هم تضمين کړي چې حقوقپوهان د اساسي قانون له موازينو سره سم عمل کوي.

د "bar association" د اصطلاح په مفهوم په افغانستان کې ډير خلک نه پوهيږي. دا اصطلاح د حقوقپوهانو د يوې مسلکي او خپلواکي ټولني په معنی ده چې نه يوازی د حقوقپوهانو له ګټونه ساتنه کوي، بلکه د هغو پرله پسې روزني او زده کړو ته وده ورکوي، په حقوقي مسلک کې د نوو افرادو شموليت تنظيموي، د مسلکي اخلاقو نورمونه ( د انضباطي اقداماتو په شمول) ټاکي او هغه عملي کوي، د خلکو د ګټو ساتنه کوي، د حقوقي اصلاحاتو او د حقوقپوهانو او قاضيانو د خپلواکتوب په لاره کې هڅه کوي. ډيرو نورو اسلامي هيوادونو (لکه مصر،اندونيزيا، ايران، عراق ،کويټ، ليبيا، ماليزيا، پاکستان، تونس او ترکيه) د حقوقپوهانو ټولني جوړې کړي دي.

دا پيشنهاد شوی چې د حقوقپوهانو د ټولني د جوړولو په وخت کې دا لاندی دولس اصله په نظر کی ونيول شي چې په عين وخت کې د دغې ټولني د سالم فعاليت ښکارندوی هم دی:

---

٣٩ دا مأخذ وګوری: Tahmindjis, P. and De Marco, L., International Bar Association Position Paper – Establishing an Independent Bar Association in Afghanistan (November ٢٠٠٥).

(i) خپلواکتوب
(ii) مسلکي موازین
(iii) اخلاق
(iv) دسیپلین
(v) حقوقي مسلک ته د شمول شرائط
(vi) پرله پسي حقوقي زده کړې
(vii) حقوقي مساعدت
(viii) د قوانینو اصلاحات
(ix) د ټولنې د غړو ګټې
(x) غړیتوب شرائط
(xi) مالي مرستې
(xii) پایښت

# پنځم فصل:د قضا اداره

## الف) منصفانه محاکمه

**۱. ســـریزه**

د منصفانه محاکمي حق د قانون د حاکمیت بنسټ جوړوي. د هغه موخه داده چې له افرادو څخه ساتنه وشي تر څوپه خودسرانه او غیرقانوني توګه هغوی له اساسي حقوقو او آزادیوڅخه چې تر ټولو مهم ئې د ژوند او آزادئ حق دئ محروم نه شي. د منصفانه محاکمي اصل د مدني او قضائي طرزالعملونو مرکزي زړئ دئ. د جنائي تعقیب په پروسه کي د منصفانه محاکمي اصل دا تضمینوي چې د تحقیق او یا توقیف له پیل څخه د محکمی تر وروستی پریکړې او د دوسیي تر ټرلو پوری د قانون له خوا د ټولو افرادو ساتنه کیږي.[٤٠]

**۲. د مدني او سیاسي حقوقو په نړیوال تړون کي د منصفانه محاکمي موازین**

افغانستان د۱۹۸۳ کال د اپریل په۲٤- مه نیټه دا تړون ومانه او د۲۰۰٤ کال د اساسي قانون په اوومه ماده کي یي دا منلي چی له هغه سره مطابق عمل وکړي. د افغانستان بین المللي تعهدات د مدني او سیاسي حقوقو د نړیوال تړون د ۹،۱۰، او ١٤ مادو له مخي ټولو کسانو ته د منصفانه محاکمی حق ورکوي.

په دي تړون کي د منصفانه محاکمي مهمو اړخونو دا ډول انعکاس موندلی:

**(i) اساسي احکام ـ ۲،۱٤، ۲٦ مي مادي**

- هر څوک په یوه بیطرفه او علني محکمه کي د عادلانه او منصفانه محاکمي حق لري.
- دولتونه باید تضمین کړي چي د قانون په وړاندي له ټولو افرادو سره مساویانه چلند کیږي او داچي هغوی بی له هرډول تبعیضه د قانون له خوا د مساوي چلند حق لري.
- په منصفانه محاکمي پوری اړونده حقوق د ټولو محاکمو او دیوانونو په باره کي چي د جرم جزا ټاکي صدق کوي؛ د عادي، اختصاصي او نظامي محکمو په شمول.( د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو د کمیټي دیارلسمه عمومي تبصره).

---

[٤٠] ګوور، الف.، هوس، ک. و مشتاقی، ر.، دری ژباړه: " موازین محاکمه عادلانه مندرج قانون اساسی افغانستان، قانون اجراآت جزائی افغانستان، قانون جزاء افغانستان و میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی" (انستیتوت حقوق مقایسوی عامه و حقوق بین الدول ماکس پلانک: سال ۲۰۰٤).

### (ii) د جزا د قانون په شا نه تګ ـ ۱۵مه ماده

- د جزا د قانون د په شا نه تګ ( یا نه رجعت) اصل د قضائي پروسې په ټولو مراحلو کې صدق کوي. ددې اصل له مخې یوازې هغه عملونه جرم ګڼل کیږی چې د ارتکاب په وخت کې په نافذ قانون کې د جرم په توګه تعریف شوي وي. دا اصل دوه عنصره لري: ۱) هغه عملونه چې د جرم په توګه نه وي پیژندل شوي نه شي کیدای چې د پلټنې، عدلي تعقیب، د حکم د صدوراویا د جزا د ټاکنی اساس وګرزي.۲) د قانون د تغیراتواواصلاحاتو په مهال هیڅوک د یوه عمل په خاطر چې د ارتکاب په په وخت کې جرم نه ؤ تعقیب شي حتی که وروستي قانون هماغه عمل جرم پیژندلی وي.
- بین الدول حقوق د قوانینو لرلید او وضاحت تأمینوي. دا د قانون د حاکمیت یو مطلق شرط دې د کوم له مخې چې د دولت د بیځایه او خودسرانه مداخلو په وړاندې له شخصي آزادیو نه ساتنه کیږي. اما دا یو مطلق اصل نه دی. که چیری نوئ قانون له زاړه قانون څخه د کوم د نفوذ په وخت کې چې پر جرم ارتکاب شوی وي د متهم لپاره ډیر مساعد وي نو کیدای شی نوئ قانون عملي شي یا په اصطلاح قانون په شاتګ وکړي. دی پروسې ته د متهم په ګټه د ډیر مساعد قانون په شا تګ وایی.

### (iii) د برائت ذمه ـ (۲) ۱٤مه ماده

- د جرم په تور هر متهم باید دا حق ولري چې بی ګناه وګڼل شي تر هغو چې د قانون له مخی یی جرم ثابت شي.

### (iv) له تعذیب نه ساتنه ـ ۷ او ۱۰ مادې

- له تعذیب نه د ساتنی حق د قضائي پروسې په ټولو مراحلو کې د تطبیق وړ دئ. دا یو مطلق او مسلم حق دی چې نه شي تعلیق کیدای، حتی د جګړې او اضطرار په حالتونوکې. همدا راز د تعذیب او د هغه د تهدید د تبرئي په خاطر د لوړو مقاماتو امرونو او دساتیرو ته رجوع کول نه دي مجاز.
- لکه څنګه چې په ملي او بین المللي قوانینو کې ئې تعریف شوی ، تعذیب د قانون د مجریانو له خوا د نامناسبی قوی استعمال دی لکه: دوامداره انفرادي حبس، د تحقیق په وخت کې فزیکي فشار(سترګې ترل)،دوامداره موسیقي، شورول یا زنګول،له خوبه محرومول، د مرګ تهدید او طبي تجربې.

### (v) له خود سرانه توقیف څخه د آزادئ حق ـ نهمه ماده

- له خود سرانه توقیف څخه د آزادئ حق دا تأمینوي چې د قانون له مخې د آزادئ سلبول باید په ډاګه غیر متناسب، غیرعادلانه اونا اټکل شوي نه وي. د ګرفتارئ یا نیونې په وخت کې چلند باید تبعیضی نه وي او د قضییی له حالاتو سره مناسب او متناسب وي.
- له دې امله د نیونې لپاره باید قانوني دلایل موجود وي او نیونه یا ګرفتاري باید په قانوني دود تر سره شي. ددې حق د ساتلو یو مهم تضمین دادی چې نیول شوی تورن باید په بیړه قاضي ته حاضرکړي شي کوم چې د هغه د غیر قانوني نیونې په صورت کې د هغه د

خوشی کولو واک لري. دا امر له یوه خپلواک مقام څخه د اغیزمن کنترول کونکي په څیر د خود سرانه توقیف د خطر د کمولو په معنی دی.

### (vi) د سکوت حق ـ (۸) (۱) ۱٤ ماده

- د سکوت یا خبرو نه کولو حق دوه عنصره لري. اول دا چې تورن نه شي مجبوریدلی تر څو پخپله ځان مقصر وګڼي. په دی ډول د عدلي پروسې په ټولو مراحلو کې د قانون له خوا تورن د اظهاراتو ورکولو او اعتراف کولو ته مجبورول منع دي. دوهم داچې که چیرې عدلي مقامات د متهم له سکوت څخه معکوس استنباط وکړي نو دا به په دې معنی وی چې د متهم د ذمي برائت پر حق تیریٔ شوی دیٔ. د جرم د ثبوتولو دنده د څارنوال په غاړه ده نو ځکه هم یوازی د سکوت پر اساس د یو چا تورن کول د هغه د ذمي د برائت پر حق باندې تیرې دیٔ. سره له دې هم دا امکان شته چې د تورن له سکوت څخه بیله دی چې د هغه د منصفانه محاکمي حقوق تر پښو لاندې شي د جرم استنباط وشي او دا په دې شرط چې څارنوال د جرم د ثبوت لپاره په پوره اندازه شواهد راټول کړي وي. د سکوت له حق څخه د مؤثرې استفادې په خاطر لازمه ده چې متهم له خپلو حقوقو څخه خبر شویٔ وي.
- د جرم د ثبوت په وخت کي هیڅوک باید دی ته مجبور نه شي چې د ځان پر ضد شهادت ورکړي او یا په جرم اعتراف وکړي.

### (vii) حقوقي مرستې او حقوقي وکالت ـ (d) (۳) ۱٤ ماده

- دا حق د منصفانه محاکمي د بنسټیزو عناصرو څخه دی. د عدالت د تأمینولو په خاطر که چیری متهم مالي امکانات ونه لري نو د هغه د حقوقي وکالت حد اقل تضمینونه باید برابر شي.

### (viii) د محکمو قانونیت ـ (۱) ۱٤ ماده

- د منصفانه محاکمي د لمړنیو شرائطو څخه یو دادی چې یوه با صلاحیته، خپلواکه او د قانون له خوا جوړه شوې محکمه د دعوی فیصله وکړي. د حکومتي ځواکونو د ویش ګټې په دی کې دي چې یو باصلاحیته قضائي مقام چې د اجرائیه اومقننه قواو تر اغیزی لاندی نه وي جوړشي.
- هغه محکمه چې پر قضیو فیصله کوي باید قانوني وي دا په دې معنی چې د اساسي قانون او یا نوروقوانینو له خوا جوړه شوی وي. دا محکمه باید د قضیو د اوریدلو صلاحیت ولري، بیطرفه وي او د ټولو په وړاندی مساویانه چلند وکړي.

### (ix) محکمو ته مراجعه(رسیدنه) ـ نهمه ماده

- محکمو ته د رسیدنې حق په دی معنی دیٔ چې هر څوک باید دا امکان ولري چې د خپلو حقوقود ثابتولو لپاره محکمو ته مراجعه وکړي، بیله دې چې قانون، مقررات او یا مادي منابع ددې کار مخه ونیسي. په ماهیت کي دا هغه حق دی چې د هغه له مخې د هرچا

غړبايد واوريدل شي او هغه ته وخت ورکړی شي چې محکمې ته خپله قضيه وړاندې کړي.

### (x) د قاضيانو خپلواکتوب او بيطرفي ـ (۳) ۹ ،(۱) ۱٤ مادې

- يوه خپلواکه قضايې قوه د منصفانه محاکمې د اصولو په عملي کولو کې مهم رول لوبوي. قاضيان بايد د دعوی کونکو اړخونو سره منصفانه او مساويانه چلند وکړي او د هرې ځانګړی قضيې د شواهدو په نظر کی نيولو سره عيني فيصله صادره کړي.

### (xi) د محاکمې د غير ضروري ځنډوني مخنيوی ـ (۳) ۹، (c) (۳)۱٤ مادې

- د جرمي قضييو ځنډ نه منونکې ځيړنه عدلي او قضائي مقامات دې ته رابولي چې د عدلي تعقيب ټولې مرحلې له ابتدائيه محکمې څخه تر استيناف پورې په يوه ممکنه او لنډه موده کې تر سره شي.

### (xii) علني محاکمې ـ (۱) ۱٤ ماده

- د علني محاکمو دد ائرولواصل دوه برخې لري: د علني اجلاس حق اود علني قضاوت حق.
- د محکمې علنيت د افرادو د ګټو د ساتلو يو مهم تضمين دی ځکه له دې لارې عدالت په علني ډول تأمينيږي. دا اصل محکمو ته دا امکان ورکوي چې خپله بيطرفي ، خپلواکتوب او انصاف ثابت کړي او په نتيجه کې پر محاکمو باندی د ملکي افرادو د اعتماد د احساسولو سطحه لوړيږي.
- په علني محاکمو کې دا استثنا هم شته چې د هغې له مخې په ځينو او يا ټولو غونډو کې د مطبوعاتو او عامه خلکو ګډون محدود شي، د مثال په توګه د مراحقو ځوانانو په قضيوکې.

### (xiii) د مناسبې دفاعيې حق ـ (۲) ۹، (c) (۳)۱٤ مادې

- دا حق نه يوازی د حقوقي وکيل د لرلو اويا له ځانه د دفاع کولو حق دې، بلکه د هغه له مخې متهم کولې شي د اتهام ټول جزئيات او شواهد تر لاسه کړي او له شاهدانو څخه پوښتنې وکړي. ددې حق عمده برخه داده چې عدلي مقامات مکلف دي متهم د هغه پر ضد له اتهاماتو، د هغه له قانوني حقوقو او د هغه په اړه د عدلي مقاماتو له خوا د نيول شويو اقداماتو څخه خبر کړي. دا ټول دفاعي خوا ته مساوي امکان ورکوي تر څو د متهم دفاعيه جوړه او وړاندی کړي

### (xiv) شـــاهدان ـ (e) (۳)۱٤ ماده

- د شاهدانو د رابللو او له هغوی نه د پوښتنو کولو حق د مناسبې دفاعيې د لرلو يوه نه بيليدونکې برخه ده(پاس وګورئ). دا حق مدافع وکيلانو ته اجازه ورکوي چې له هغو شاهدانو څخه چې د جرم د تبرئې او يا تخفيف په اړوند مدارک لري پوښتنه وکړي او د

څارنوال پر شواهدو اعتراض ونیسي. ددې حق پایلې داده چې ټول مدارک باید د متهم په حضور علني محکمې ته وړاندې شي تر څو همدا مدارک او دشاهد اعتبار او اعتماد ارزیابي شي.

- پدې قاعده کې استثناأت امکان لري، د مثال په توګه که چیرې د شاهد مصئونیت تر پوښتنې لاندې وی . اما دا ډول استثناأت د مدافع وکیل حقوق نه نقضوي. له شاهد څخه د پوښتنې حق د ځینو عملي عواملو له کبله محدود کیدای شي ، د مثال په توګه د شاهد د غیابت او یا هم کله چې شاهد د متهم له خوا د غچ اخیستنې ویره ولري. اما عدلي مقامات باید د اړونده شاهدانو په پیدا کولو کې غفلت ونه کړي.

### (xv) ژباړونکي او ژباړه – (a) (۳)۱٤ ماده

- د ژباړونکي د درلودلو حق ډیر مهم دې ځکه که چیرې متهم د ژبنیو خنډونو له امله د ځان پر ضد پر اتهاماتو ونه پوهیږي نو د ځان نه ددفاع ټول حقوق بې مفهومه دي. د یوې عادلانه محاکمې لپاره ضروري ده چې متهم ته د عدلي تعقیب په ټولو مراحلو کې د ژباړونکي مرسته ورسیږي تر څو د هغه د مناسبې دفاعیې حق تأمین شي. دا حق نه یوازې بهرنیانو بلکه د کورنیو ژبنیو اقلیتونو ته هم رسیږي. لکه څنګه چې د ژباړونکي مرسته په جزائي محاکماتو کې ډیر اهمیت لري نو ځکه هم په ټولو هغو قضیو کې چې متهم مالي توان ونه لري د ژباړې مصارف باید د دولت له خوا ورکړل شي.

### (xvi) د مـــرافـــعې حق – (٥)۱٤ ماده

- د مرافعې د غوښتلو حق له یوې خوا متهم ته دا امکان ورکوي چې د خپلو حقوقو د ساتلو په اړه د یوې با اعتباره محکمې فیصله تر لاسه کړي او له بلې خوا د استیناف محکمې قاضي ته دا زمینه مساعدوي چې هغو اشتباهاتو ته ګوته ونیسي کوم چې ښائي د مخکني قاضي له خوا شوي وي.

### (xvii) مراحقین – (٥) ٦ ،(b) (۲) ۱۰ ،(۳) ۱۰، (۱) ۱٤، (٤)۱٤ ،(۱) ۲٤ مادې

- مراحقینو یا تنکي ځوانانو ته د نړیوالو حقوقو په قانون کې خاص تضمینونه شته. ماشوم هغه چاته ویل کیږي چې سن یې تر اتلسو کم وي، مګر داچې په ملي قوانینو کې د بلوغ سن مخکې ټاکل شوې وي ( د ماشوم د نړیوال تړون لمړۍ ماده). تر محاکمې دمخه او ترهغې وروسته د ماشومانولپاره دژغورنې د پراخو تدابیرودنیولودلیل دا دې چې هغوی ترنوروزیات آسیبپذیره دي او دولت او ټولنه د تنکیو ځوانانو له محافظت سره علاقمندي لري.
- د ماشوم د حقوقو د تړون ٤۰ ـمې مادې دا په ګوته کړې ده چې له ماشومانو سره عدلي چلند باید د هغوی د کرامت په نظر کې نیولو او په ټولنه کې د بیا پیوستون له هیلې سره سم ترسره شي. له دې امله لازمه ده چې د متهمو ماشومانو لپاره یو ځانګړئ عدلي سیستم جوړ شي. له ټولنې سره د متهمو ماشومانو بیا پیوستون ته د رسیدو لپاره لازمه ده چې د ماشومانو جرمي سوابق په ډیره محرمه توګه وساتل شي او یوازې باصلاحیته مقامات د هغو د لیدلو اجازه ولري. همدا راز د ماشومانو له بدنامۍ څخه د مخنیوي لپاره د ماشومانو

په خاصو محاکمو کې د عامه خلکو او مطبوعاتو ګډون منع دئ. دا امر د محکمې د فیصلې د ابلاغ په صورت کې هم صدق کوي. په حبس محکوم شوي تنکي ځوانان باید له لویانو څخه بیل وي.

## ب) د دعوې د حل بدیل میتودونه

**۱. ســـریزه**

د دعوی دحل بدیل یا ثانوي میکانیزمونه ډیر دي: له وساطت او منځګړیتوب څخه نیولی چې دریم تن د لانجې د حل غیرالتزامي لاره پیشنهادوي تر حکمیت پورې، کله چې په لانجه کې ښکیل اړخونه دا په ځان منې چې د دریم اړخ پریکړه ومني.
دا میکانیزمونه کولی شي چې د لانجو د حل او فصل موده لنډه کړي، د دعوی د اقامې مصارف وسپموي او د بوختو او کندکارو محکمو بار سپک کړي.[٤١]

د لانجو د حل بدیلې لارې ځینې وسائل لري د کومو په مرسته چې لانجې ددعوی له رسمي اقامې پرته حل او فصل کوي. د ځینو هیوادو له خوا له دې بدیلو لارو سره علاقمندي په دې سبب ده چې هغوی غوارې د وساطت او منځګړیتوب عنعنوي لارې چارې بیا راژوندی کړي.
د دعوی دحل بدیلې لارې په دریو لویو څانګو ویشل شوی دي:

(i) له محکمو سره تړلې امکانات
(ii) د تولنو پر بنسټ ولاړې د عوی د حل بدیلې لارې
(iii) تجارتي حکمیت

**۲. له محکمو سره تړلې دلانجو د حل بدیلې لارې**

دا بدیلې لارې د منځګړیتوب او پخلاینې لارې دي چې یو دریم بیطرفه اړخ د لانجې یوه داسې حل ته د رسیدو لپاره مرسته کوي کوم چې د دواړو لانجمنو لپاره د منلو وړ وي. له محکمو سره تړلې د دعوی د حل نورې لارې دادي: بیطرفانه ارزیابي، د منصفه هیئت مجموعي فیصله، کوچنی محاکمې او نور. ددې میتودونو د پلویانو په استدلال داد لارې چارې د دعوی داقامې موده او مصارف کمې، عدالت ته مراجعه آسانوي، د محکمو مصروفیتونه کموي او په عین وخت کې د لانجمنو تر منځ د ټولنیزو اړیکو ساتل تأمینوي.

---

٤١ دا مأخذ ته وګورئ: Roberts, S. and Palmer, M., *Dispute Processes. ADR and the Primary Forms of Decision-Making* (Cambridge: Cambridge University Press, ۲۰۰۵).

### ۳. د ټولنو پر بنسټ ولاړې ددعوی د حل بدیلې لارې

د دعوی د حل دا لارې د رسمي محکمو له سیستم نه خپلواکي دي، په ځینو حالاتوکي رسمي عدلي سیستم ښائي غیرعیني، ګران، لیرې پروت او یا هم په کوم بل علت د خوښې وړ ونه ګڼل شي. نوي نوښتونه کله ناکله د خلکو د عدالت د عنعنوي موډلونو پر بنسټ چې پر سپین ږیرو، مذهبي مشرانو او د ټولني پر نورو مخورو اتکأ لري رامنځته کیږي.

### ٤. تجارتي حکمیت

د دعوي د حل د بدیلو لارو په ځینو تعریفونو کې تجارتي حکمیت هم شامل دې. دا دلانجو د حل هغه شخصي اجراأت دي چیرې چې یو بیطرفه دریم اړخ په دواړو لانجمنو باندي د قبول وړ پریکړه کوي . په تیره لسیزه کې ډېرو هیوادونو د بین المللي تجارتي حکمیت د موډل له مخي ورته قوانین تصویب کړي دي. دا موډل په ۱۹۸۵ کال کې د ملګرو ملتونو د نړیوال تجارتي قانون د کمیسیون له خوا وړاندې شو چې په هغه کې د حکمیت پریکړه ددواړو خواو لپاره په قانوني توګه الزامي ګڼل کیږي او د تجارتي شرکتونو لپاره چې تجارتي حکمیت یې غوره کړی وي د پراخو حقوقو تضمین کوي

## ج) د دعوی دحل د بدیلو لارو افغاني میتودونه

د تیرو پیړیو په ترڅ کې د جرګو عنعنوي سیستم په افغانستان کې دلانجو دحل یو مهم میکانیزم ؤ او د هیواد د ټولنیز نظم په ساتلو کې یې اغیزمن رول لوبولی دی.د جرګې کلمه په پښتو ژبه کې ډیره استعمالیږي. اما په دري\فارسي او ترکي ژبو کې هم شته. جرګه د افغاني ټولنې په کلتوري او سیاسي ژوند کې د پښتنو له خوا د لانجو د حل له قومي او قبیلوي دودونو او رواجونو سره نږدې نغښتې ده چیرې چې خلک د کړکیچ د حل او یا دنورو مهمو ټولنیزو مسائلو په هکله د ګډې پریکړې کولو لپاره راغونډیدل او چارچاپیره په یوه لویه کړی کیناستل.[٤۲]

که څه هم جرګې د افغانستان د اکثریت پښتنو د قومي اقتصاد او ټولنې سره ټینګې اړیکې لري، مګر په لیرې پرتو سیمو او کلیو کې چیرې چې تاجیکان، هزاره ګان او ازبکان اوسي د شورا په نامه هم یادې شوی دی. د افغانستان د تاجیکانو ، هزاره ګانو او ازبکانو ترمنځ شورا د هغو لانجو د حل یوه لاره ده چې د انفرادي کسانو، کورنیو، د کورنیو د ډلو او یا قومونو تر منځ را پیدا کیږي.

که څه هم جرګې له اسلام نه مخکې مروجې وې اما د هغو روحیه او فلسفه د قرآنکریم له احکامو سره مطابقت لري. د افغانستان بشپړ اکثریت مسلمانان دي او هغوی د جرګو له روحیې او فلسفې نه ملا تړ کوي ځکه چې هغه د دوی د مذهبي عقائدو سره مخالفت نه لري. د جرګو قبیلوي او قومي اصل د افغاني ټولنې په سیاسي ژوند کې جوت انعکاس لري . د پارلمان دوه مجلسونه ولسي جرګه او د مشرانو جرګه په همدې نومونو یاد شوي او د هیواد د استازو لویه غونډه هم د لویې جرګې په نامه یادیږي.

---

٤۲ دا مأخذ وګوری: Wardak, Ali, 'The Institution of Jirga and Local Dispute Settlement in Afghanistan' (Draft Paper), To Be Published ۲۰۰٦

یوه جرگه کیداي شي چې د افغانی ټولنی د جوړښت په بیلابیلو سطحو کې جوړه شي لکه ملي،قومي او سیمه ایزه جرگې. په ملي سویه د افغانستان د سپین ږیرو او سیاستمدارانو غونډه د لویې جرگې په نامه یادیږي چې په نوبتي ډول دایریږي او د هیواد پر مهمو مسئلو لکه د جگړې اعلانولو، د سولی د تړون منلو او داساسي قانون د تصویبولو په هکله پریکړې کوي. د ټیټي سویې جرگې هماغه قومي او محلي جرگې(یا مره کې) دي چې د قومونو او کلیو تر منځ لانجي حل او فصل کوي. د کلیو محلي جرگې چې ډیر عمومیت لري دافغاني ټولني د روزمره کړکیچونو سره سر او کار لري او په هیواد کې د دعوې دحل یو مهم غیر رسمي میکانیزم دئ. محلي جرگه د یوه خیل تر منځ جوړیږي. په یوه خیل پورې اړونده کورنۍ کیداي شي چې په څو کلیو کې ژوند وکړي نو ځکه هم محلي جرگې د څو کلیو تر منځ لانجې فیصله کوي.

محلي جرگې د لانجو دحل یوه وسیله ده چې لاندې ترکیبي عناصر لري:

> په وخت او ځای پورې تړلې نرخ (د قوم مدني او جزائي قانون)، عرفي دودونه او رواجونه، د مرکه چیانو ډله (منځگړي او خبری اتری کوونکي)، د لانجې په هکله پریکړه ( د مرکه چیانو نهایي فیصلې) چې منل یي د گډون کوونکو له خوا حتمي دئ.

دا تعریف په دې معنی دې چې د یوه خیل غونډه چې په هغې کې د جرگې پاسني ترکیبي عناصر لکه نرخ،عرفي دودونه اورواجونه،مرکه چیان او پریکړه نه وي، د هغې غونډې تصامیم حتمی الاجرا نه دي. ددې څلورو عناصرو تحقق د جرگې د پروسې له اعتبار او دهغې دوروستۍ پریکړې د مشروعیت او معنویت سره نږدې اړیکي لري.
محلي جرگې معمولاً په ټاکلو، علني او عامو ځایونو کې دایریږي، چیرې چې د هغې غړي په گډه سره د لانجو د حل لپاره راټولیږي. دا لانجې له کوچنیو مسئلو لکه پر ځمکه، ملکیت یا میراث باندې له دعوی څخه نیولی بیا تر جنائي مسئلو پورې وې لکه بدني ضرر او قتل. په جرگو کې گډون کوونکي د هغوی د ټولنیز موقف له توپیر سره سره ځانونه یو له بل سره مساوي احساسوي. محلي جرگې د مساوي حقوقو غونډې دي او په هغو کې رئیس او یا د وینا کوونکو رتبوي نظم نشته. په محلي جرگو کې پریکړې معمولاً له څو ورځو وروسته نیول کیږي . د محلي جرگو میلمه پالنه اکثراً په لانجه کې د ښکیل اړخ له خوا او یا د خیل او کلي د با نفوذه غړي په غاړه وي.

که چیرې مرکه چیان د جرگې په پای کې یوې منصفانه پریکړې ته ورسیږي نو د هغې منل په لانجه کې پرښکیلو خواووحتمی ده. که چیرې په لانجه کې شاملین پریکړه منصفانه ونه بولي نو دا فیصله رد کیدای شي. دی حالت ته کوږ نرخ وایي او دا په دې معنی چې د نرخ تعبیر او تفسیر سم نه ؤ او یا دا چه مرکه چیانو بډی خوړلي او یا یي د یوې خوا ننگه کړی ده.

په دې حالت کی ناراضي اړخ باید د کلیوالوملاتړ ولري تر څو بله جرگه راوغواړي. که چیرې دوهمه جرگه د پخوانۍ جرگې په پریکړه کې کوږ نرخ پیدا کړي نو مرکه چیان خپل اعتبار له لاسه ورکوي او په راتلونکو جرگو کې د گډون حق نه لري. برسیره پر دی هغوی باید دواړو خواوو ته تاوان هم ورکړي. محلي جرگې هم د قومي جرگو په شان درې واره راغونډیدائ شي، ددریمې جرگې پریکړه وروستۍ ده او باید عملي شي.

د مرکه چیانو" دودیز صلاحیت" د دواړو خواو لپاره د منلو وړ پریکړی ته درسیدو په لاره کې ډیر رول لري. د مرکه چیانو د مشروعیت اصلي سرچینې د هغوی په شخصي صفاتو کې نغښتې دی لکه : تقوی، دینداري، سخاوت، نجابت، ټولنیز موقف، دلاربنودنې مهارت او دجرگې پر اصولو او نافذو قوانینو پوهیدنه. همداراز مرکه چیان په ډیر مهارت سره له قانع کونکو دلایلوڅخه( لکه د خدای نه ویره، دننگ او ناموس د خطر او د خپل د یووالي) نه گټه اخلي تر څو دواړې خواوې د یوې پریکړې منلو ته حاضر شي.

محلي جرگې د خپلو فیصلو د عملي کولو غیررسمي میکانیزم لري چې د لانجې اړخونو ته د پریکړې نه د سرغړونې اجازه نه ورکوي. که چیرې کوم څوک د منل شوې پریکړې نه سر وغړوي رټل کیږي. رټل د ټول کلي له خوا یو بایکوټ ته وایي. په ځینو حالاتوکې د جرگې د پریکړې سرغړونکۍ ناغه (جریمه) کیږي.

د افغانستان په ځینو برخو کې د جرگو پریکړې د اربکیانو له خوا په ځواک سره تطبیقیږي. اربکیان معمولاً د کلي ځوان او مجرد نارینه دي چې د جرگو د پریکړو د عملي کولو مسئولیت لري. په ځینو حالاتو کې هغوی ته دا امر هم کیدای شي چې د جرگې د پریکړې د متخلف کور وسوځوي. په ځینو نورو حالاتو کې جرگه دا پیشنهادولی شي چې پړ(محکوم شوې شخص) دې د لانجې د حل لپاره د زیانمن شوي اړخ خپلوي ته ښځه په نکاح ورکړي.

که څه هم دا ډول پریکړې د محلي جرگو له خوا ډیرې کمې شوی دي، مگر بیا هم په هغو برخو کې چې جنگ سالاران تر اوسه هم واک لري لیدل کیږي. د افغانستان په باب مطالعاتو ښودلی ده چې ددغوجنگ سالارانو له خوا جوړې شوې جرگې او شوراگانې ورځ په ورځ مخ پر کمیدو دي او ځای یې دودیزه خپلواکې جرگې نیسي چیرې چې د کلي او قوم د مشرانو او سپین ږیرو صلاحیت اعاده شوی دی. ددې دلیل دادۍ چې جنگ سالارانو د خلکو تر منځ اعتبار او مشروعیت له لاسه ورکړی دی.

د یادولو وړ ده چې د دودیزه جرگو او شوراگانو ځینې فعالیتونه باید محکوم شي ځکه چې هغه د ملي، اسلامي او د بشر د حقوقو د نړیوالو قوانینو څخه سر غړونه ده . په یوویشتمه پیړۍ کې محلي جرگې چې په عنعنوي ډول پلارسالاري بڼه لري یوازې هغه وخت د یوه متساوی الحقوقه جوړښت په توگه فعالیت کولې شي چې د هغې په کار کې دواړه ښځې او نارینه گډون ولري. له دې امله دا په ډیرو سطحو کې د اصلاحاتو غوښتونکې ده.
ددې لپاره چې محلي جرگې وکولی شي خپل ټول امکانات په کار واچوي نو باید خپلواکه وي او د جنگ سالارانو له غیرقانوني نفوذ څخه خلاصی شي. او بالاخره د جرگو پریکړې باید د ملي قوانینو او د بشر د حقوقو د اساسي اصولو سره تطابق ولري. د وروستیو فوق العاده او د اساسي قانون د لویو جرگو تجربو دا وښودله چې په افغانستان کې د جرگو عنعنه دا ظرفیت لري چې عنعنوته له معاصرو ارزښتونو سره پیوند ورکړي.

# مـــأخـــذونـــــه

**متونه:**

Alder, J., *Constitutional and Administrative Law* (Hampshire: Palgrave Macmillan, ۲۰۰٥).

Charlesworth, H. and Chinkin, C., *The boundaries of international law. A feminist analysis* (Manchester: Manchester University Press, ۲۰۰۰).

Guhr, A., Hob, C. and Moschtaghi, R., *Fair Trial Standards in the Afghan Constitution, the Afghan Code of Criminal Procedure, the Afghan Penal Code and the International Covenant on Civil and Political Rights* (MPI Institute for Comparative Public Law and International Law: ۲۰۰٤).

Menski, W. F., *Comparative Law in a Global Context* (London: Platinum Publishing Limited, ۲۰۰٦).

Office of the High Commissioner for Human Rights and International Bar Association, Professional Training Series No. ۹. Human Rights in the Administration of Justice: A Manual on Human Rights for Judges, Prosecutors and Lawyers (New York and Geneva: United Nations, ۲۰۰۳).

Roberts, S. and Palmer, M., Dispute Processes. ADR and the Primary Forms of Decision-Making (Cambridge: Cambridge University Press, ۲۰۰٥).

Steiner, H. J. and Aston, P., *International Human Rights in Context. Law Politics and Morals*. Second Edition (Oxford: Oxford University Press, ۲۰۰۰).

Tahmindjis, P. and De Marco, L., International Bar Association Position Paper – Establishing an Independent Bar Association in Afghanistan (November ۲۰۰٥).

Van Bueren, G., *The International Law on the Rights of the Child* (The Hague: Kluwer Law International, ۱۹۹۸).

Wardak, Ali, 'Building a post-justice system in Afghanistan' in *Crime, Law and Social Change* ٤۱, pp.۳۱۹-۳٤۱, ۲۰۰٤.

Wardak, Ali, 'The Institution of Jirga and Local Dispute Settlement in Afghanistan' (Draft Paper), To Be Published ۲۰۰٦.

Eds. Welchman, L. and Hossain, S., *'Honour' Crimes, Paradigms and Violence* (London: Zed Books Limited, ۲۰۰٥).

## ویبسایتونه:

- د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون
http://www.aihrc.org.af/

- د انګلستان او ویلز د حقوقپوهانو د ټولنې د بشري حقوقو کمیټه
http://www.barhumanrights.org.uk/

- د انګلستان د بهرنیو چارو وزارت
http://www.fco.gov.uk

- د کامنویلټ هیوادونو(دلاتیمیر دمانی) اصول
http://www.thecommonwealth.org/shared_asp_files/uploadedfiles/{ACC۹۲۷۰A-E۹۲۹-٤AE۰-AEF۹-٤AAFEC٦۸٤۷۹C}_Latimer٪۲۰House٪۲۰Booklet٪۲۰۱۳۰۵۰٤.pdf

- د بشر د حقوقو نړیوال تړونونه
http://www.ohchr.org/english/law/index.htm

- د حقوقپوهانو نړیواله ټولنه ـ د اخلاقو نړیوال قانون
http://www.ibanet.org/images/downloads/International_Ethics.pdf

BAR HUMAN RIGHTS COMMITTEE OF ENGLAND AND WALES

# Training Manual on Rule of Law

Afghanistan

April 2006